Ketabona | کتابونه
WWW.KETABONA.COM



دریم چاپ

# وطنه ستا لیوني!

(د هاشم لوګري د ژوند، تېرې، هېرې، نوې زړې...)

محمد الله همیم

DIGITAL LIBRARY
WWW.KETABONA.COM

Ketabona | کتابونه
WWW.KETABONA.COM

بسم الله الرحمن الرحیم

@Ketabona
DOWNLOADED
WWW.KETABONA.COM
info@ketabona.com

# وطنه؛ ستا لیونی!

(د هاشم لوګري د ژوند؛ تېرې، هېرې، نوې زړې...)

لیکوال: محمدالله همیم

**ډالۍ:**

**- ملنګ ملګري (کړاو منګل) ته، چې ويلي يې دي:**

**لېوني خو څه ښکر نه لري کړاوه**
**همدا موږ يې مستندې حوالې يو**

**- ګل لالا (عزت الله ځواب) ته، چې دې کيسې ژړولی دی.**

**راته ويل يې:**
**«زه په کې ځان ګورم ياره!»**

**شهکار کیسه**

د همیم د خوږې لیکوالۍ په اړه مې ډېرو ته ویلي. دا په څهره سوزېدلی اوس د لوستونکو په زړونو کې خاص ځای لري، په دې خاطر چې ځان د لیکوال په نوم پېژندل نه غواړي، بلکې له طبعیت او مخلوق مینه را ټولوي او دوی ته یې وړاندې کوي... د شعر په شان د لیکوالۍ لورینه هم پرې شوې خو د ده ځانګړنه دا ده چې لیکل په ډېر اخلاص کوي، له زړه لګیا وي.

همدا یې لویي ده... زه یې چې لولم، نو رامالومېږي په نثر کې یې دا زور شته، چې نا منونکي په خلکو ومني...

هسې خو ورکو، پټو، روغو، ماتو، غورځېدلو... پسې وګرځېد، ویې غږول، د ژوند خواږه یې راټول او بیا یې په داسې شاعرانه ژبه ولیکل چې تر اوسه د لوستونکو په زړونو ولاړ دي او ښه احساس کوي.

خو دا ځلې يې ژور نظر هاشم ته واوښت، درک يې کړه چې شته ډېر ښه، پاڅېد، لاره يې بدله کړله، ورغی، اول يې دوکاندار عيدو وليد، ملګری يې کړ، بيا يې هاشم وليد کاکا يې ورته ووېل، په ډېرې سپين سترګۍ پسې هرڅای ورغی، خپله ترې پخوانی تکړه هاشم جوړ شو، تر لېرې کوڅې ماما هم ورسېد... ډېر يې وغړول، ان که هغه لارې چې هاشم پرې ګرځېدلی، هغه ونې چې سيوري ته يې ناست شوی او هغه غرونه غړېدلی چې هاشم به پرې نه سترې کېده، نو ده به غړولې وای، خو... دی د هغوی په څېر ګونګی کېږي، دا چوپتيا ليدل او اورېدل غواړي. لنډه دا چې: ليکوال يې د يو لېونې ژوند ته دومره ور ننوت، چې اوس پرې خلک مينوي، د انسان تعريف يې وګرځاوه. په همدې دليل (وطنه، ستا لېونی!) شهکار کيسه ده...

دا داستان د جادويي رياليزم په سبک ليکل شوی، مانا دا چې د خيال او واقعيت يوه داسې ګډوله ده؛ لکه د ګلونو په غونچه کې رنګا رنګ راټول وي او کرکټرونه يې سره نه شي بېلېدلی.

درناوی

عطا الله ځواب

**یادښت:**

هاشم زما د وطن لېونی دی، زما د وطن کیسه کوي. یوازې هاشم نه، د وطن ټول هاشمان درته تېرې بدمرغۍ یادوي، په مخونو یې د وطن انځور رسم دی. ما به چې هاشم ته کتل، لېونی نه راته ښکارېده، خپل وطن مې لیده.

ډېر بختور به یم که د دې اثر تر لوستلو وروسته د هر لېوني په سترګو کې همداسې داستان ولولئ.

ځینې کیسې به بشپړې نه وي، د هاشم د کورنۍ محدودیت او زما مجبوریت یې وګڼئ.

د دې کتاب په لیکلو کې ملګري داود «تپان» زما تته اراده، سپرغۍ کړه. (وطنه، ستا لېونی!) نوم راته ډېر مهربان پیرمحمد کاروان خوښ کړ، څو د زړه خبرې یې غزلیزې کړې. ملګري عطاءالله ځواب را سره د کتاب چارو کې سترې شو. د دوی ټولو مینې او اخلاص ته به له خدایه ج بدله غواړم.

مازیګر دې همداسې د علم او هنر په وړانګو روښانه وي. د خالق زیار خبره:

زاهده په جنت کې به پرانیستې تنۍ ګرځم
ترڅې مې ټول عمر له خوارانو سره ملا ده

محمدالله همیم

***

د کرزي وخت و، يو چا تور پټکی وهلی، ږيره يې تکه شنه کله کړې. نري، نري برېت يې پرېښي. سپين ازاد کالي يې پر تن دي، د خړ دېوال ډډې ته ناست دی، څوک موبايل ورکوي: «واخله، باچا دی، ورسره وغږېږه!» دی موبايل ترې کشوي. له غوسې خوټېږي، موبايل خولې ته نږدې نيسي: «کرار ناست يې، د باچايي نوم دې اچولی، دا خلک (امريکا) دې راوستي، پرې غرق دې موړ کړو. نه عريضه چلېږي، نه خبره چلېږي. موږ ته خلک راځي، موږ نه پرېږدي، موږ بمباروي.» د دې خبرو منځ کې يې دومره کنځاوې وکړې، چې نور سترې شو، ساه يې لنډه شوه، موبايل يې وغورځاوه: «لرې که سړيه، زاره چاودي يې کړو.»

ناستو په ده خندل، چې څنګه يې په رښتيا ومنله، چې له باچا سره غږېږي، ده همغسې کنځاوې کولې. ما همغه وخت اول وار له ځهرې ولید، چې دا سړی (هاشم لوګری) دی. چې په خلکو کې په (هاشم لېوني) مشهور دی. ګني نامه مې يې له دې مخکې اورېدلې وه. هغه وخت مې له ډېرو نورو خلکو سره د ده وېډيوګانې او ثبت غږونه لیدلي

ول. چې له کنځاوو به خالي نه وې، د ده خبرو کې کنځا ضرور ملګرې وه.

چا موبایل ورته نېولی:

- هاشمه دا خلک وایي، چې ته دومره زورور یې، دا کنځاوې ولې کوې؟

- نه جایېږي، په زړه قران که جایېږي، ځې کنځا ونه کم بوج نه سپکېږي.

هاشم له خندا شین شي:

- خدای راستي لکه زمي کې ځې له واورو بامونه تور کې، داسې زړه مې سپک سي.

بل ځل چا ته مخامخ کنځا کوي، خو وروسته خاندي، لکه خپله ملامتي یې چې منلي وي: «خو لېونی یم، ځې لېونی کولم مو اوس خو به کنځاوې اورئ.»

ځوک د هاشم کلي ته ورغلی. زېړه لونګی یې وهلې د پاخه عمر سړی دی. کمرې ته یې مخ واړوه: «دوستانو! ماشومانو ته مو کتابچې و قلمونه راوړل. اوس به یې ورته ووېشم، چې سبقونه ووایي، د اینده ډاکتران، انجینران شي. هغه دی هاشم لېونی ام را روان ده، تاسې به یې ټول پېژنئ.»

هاشم را رسېږي. غوسه ورغلې وي، له سلام، کلام مخکې ورته وایي:

- چیشته راغلی یې؟

- ماشومانو ته مو کتابچې راوړي، تا پسې نه یم راغلی، لېونیه!

هاشم کیسه ورته کوي:

ـ سرک ته ختلی وم. موټر ودرېد، چا له شیشې سر راویست. له واره یې کنځاوې راته وکړې، ما څې خوله ورته جوړوله، موټر روان سو. وه سړیه، نه مې پېژني، نه مې ایېزني، کنځا ولې کوي؟ څه قرضه یې ده را باندې؟

ته ساده دې خلکو ته کتابچې راوړې، مه راوړه، څې بیا یې را نه وړې.

هاشم باندې یو کس غږ کوي:

ـ امریکا ته ځې؟

ـ خود ځم. څې داسې وطن ته تللی وای، څې نه پیاده راتلی، نه سوره.

ـ هلته خو خلک کمیس نه اغوندي؟

ـ څې یو وار ور واوړو، اتي لوڅ لغړ گرځو.

هاشم په دې کیسه مجلس وخنداوه، خو دا خبره یې په رښتیا د غور ده او سوالیه ده چې موږ یوو همداسې که ماحول نېولي یو.

هاشم حجرې ته کیسه کوي:

ـ کابل ته تللی وم. موټر وو، ټوپکوال ورکې ناست وو، داسې یې خوسي کړي وو څې... هلته مې له چا پوښتنه وکړه وایي: «دا زورواکی ده.» وه خلکو، یوه توپانچه راته پیدا کی، څې په دې مغزي یې ورکېږدم.

له حجرې څوک غږ پرې کوي:

ـ هاشمه، هغه نسې ویستی. انتخاباتو ته درېږي.

هاشم، خندا، خندا کې دا خبره ور پوره کوي: «سهي ده، بیخي سهي ده، والله.»

دا جمله یې بیا ډېره مشهوره شوه، تر ننه یې خلک لیکي او وایي. دې جملې کې د ناخوال او رشخند یو پټ رمز دی.

هاشم سترې ښکاري، څوک ورته وایي:

ـ هاشمه، څه حساب ده؟

ـ حساب دا ده، څې هیڅ حساب نسته.

یو بل ځای هم جالب غږېږي وایي:

ـ ما داسې چل یاد کړی، دا د څنګ وطنونه به ټول سلامې ولاړ وي.

ـ څنګه؟

ـ لوی دېوال جوړوو، د دوی څنګ ته. د وطن خو کمه اوبه نه ده، ټوله ور ماتوم هملته به ډنډ ولاړه وي. که کوم وطن شیطاني وکړه، یا یې تېروبېره وکړه پې ور چپه کوم یې. والله په اوبو یې شغرب و مغرب ته درته یوسم.

ـ ښه که خلک درته ووایي، ته خو لېونی یې. ته به څه ورته وایې:

ـ زه به ورته ووایم څې خدای دې عفوه راته وکړي.

د هاشم مې ډېرې کیسې، خنداګانې، غوسې او کنځاوې موبایلونو کې ولیدې. خو له نږدې مې نه و لیدلی. هغه ورځ لوګر کې واده و. زه له بل انډېوال سره لاړم. چې ور ورسېدو، ډېر خلک نور هم راغلي وو. له ماښامه پس په یوه لویه حجره کې، موږ او نور ټول مېلمانه راټول شوو، خنداګانې، اتنې او کیسې وې. یو ځوان راننوت، غاړه یې تازه کړه، ټول یې غلي کړل، لکه زېری چې کوي:

ـ هاشم لېونی راغلی.

هلک ووت. خلک له یو بل سره پسخېدل. لږ وروسته هاشم راننوت، د ده په لیدو ټول غلي او حیران شول. څو دانې خولی یې خدایزده په سر کړې وې، ازاده کورتی یې اغوستې وه، یو لاس کې یې نوشابه نیولې وه، بل لاس یې د کمیس دننه پټ و، نه ښکارېده. هاشم کېناست. ډله خلک ور جگ شول، کمرې یې ورته ونیوې. گډې وډې کیسې، کنځا او خندا... ناستو ترې خوند اخیست. خبرو ته یې لټ په لټ اوږېدل. ډېر ور جگ شول، لاس یې پرې واړوه... عکسونه یې ورسره واخیستل. یو سپین ږیری راننوت. چې د همدې څو کورونو مشر و، تسبې یې په لاس کې وې. ټنډه یې تروشه وه. هاشم ته یې رډ، رډ وکتل، ویې ویل:

ـ دا چا راوستی؟

خلکو د زوم نوم ورته واخیست، ورته ویې ویل چې په سړک یې لیدلی و، له ځان سره یې راوستی.

سپین ږیری غوسه شو:

ـ په دې لېونډرت څه کوئ، هر سړی تربور لري، دوست لري. داسې د فتنو وخت سو، یموږ وختونو کې به زوم له شرمه لس ورځې کور ته نه راتلو، غرونو کې به یې شپې وې. اوس خو زوم له ټولو بر ناست وي، داسې لېونی یې ام له لاسه رانېولی وي، حجره کې یې درته کېنولی وي.

د سپین ږیرې غوسې، له هاشم پرته نور ټول غلي کړل، هاشم همغسې له ځان سره غږېده، څوک یې یادول... خندا به شین که... هاشم حجرې باندې غږ وکړ:

- مړی کله راوړي؟

سپین ږیري مخ پرې ور واړوه:

- زړی مړی ام نسته.

هاشم سم له واره په خندا ورته ووې: «څنګه چل ده، زه و خدای بنګله خو دې له کشمیره بښکاري.»

له سپین ږیري ټول وپرېدل، خو د هاشم دې خبرې ته د چا خندا ونه درېده، ټولو دومره وخندل، چې سپین ږیری په قهر ووت.

مړی یې راوړه، دوه، دوه ورته کېناستل خو هاشم ګوښی ناست و. د هیچا زړه نه و، چې ورسره کېني. لږ مخکې د عکس له پاره ډېرو لاس پرې واړوه.

کله مو چې مړی وخوړه د هاشم په اړه مې نورې جالبې هم واورېدې. چا یې جهاد یاداوه، چا یې مینه یادوله، چا یې د ځوانی کیسې کولې. هر چا د ده په اړه اوازې اورېدلې وې. زما تلوسه شوه، چې د دې سړي په ژوند خبر شم. ځکه په همغه شپه یې د کنځاوو منځ کې ډېرې د پند او عبرت کیسې هم وکړې، چې په رښتیا د فکر وړ وې.

ما د هاشم له مجلسه ډېر خوند اخیستلو، خو خپله مې کیسې ورسره ونه کړې، دا ښکلې شپه ووته، سهار شو، نور مې رخصت راخیست، د سهار چای ته ناست وو، له هاشمه مې څو ځله پوښتنه وکړه، یا به یې خندل، یا به یې بله کیسه پکې کوله. په ډېره سختی مې د ده د کور درک ترې واخیسته.

د هاشم سره دا زما لومړي ليدل شول. د ده په اړه مې ډېر روايتونه اورېدلي وو، چې حيران کړی يې وم. زه بايد د ده کلي ته تللی وای، چې د ده په کيسه مې ځان پوی کړی وای. نيت مې وکړ، چې د هاشم کلي ته لاړ شم، د وطن د دې لېوني په کيسو، خاطرو، تېرو، هېرو... پسې وګرځم.

ځو شپې تېرې شوې... يو سهار داسې هم راغی، چې د سفر ورځ وه، ځو جوړه جامې، يوه کتابچه او قلم مې بکس ته واچول،
د سهار لس بجې وې، د کابل له (بالحصاره) د لوګر په موټر کې کېناستم، له چهار آسياب بازاره چې ووتو، ښه شېبه مزل مو وکړ، راياد شو چې هاشم دا ځای راته ښودلی و، له موټر ښکته شوم، د سړک دواړه غاړې دوکانونه وو. يوې غرفې (هټۍ) ته ودرېدم.
ـ هاشم لوګری چرته اوسي؟
ـ ها لېونی؟
ـ هو.
ـ هاغه مخامخ کورونه چې وينې؛ له ونو پورې غاړې ته، هلته اوسي. لږ وختي به راغلی وې؛ ما سره و.
ـ ملګری دې ده؟
ـ وو، هر سبايي راځي، څه دې کاوه؟
غرفې ته ور ننوتم، دا سړی عيدو نومېده. هاشم هر ګهيځ راتلو، د عيدو په دوکان کې يې مستې خوړې. ويل يې:

«هاشم نن ورونېو ته غوسه و. ځې ولې یې آلوگان ټول یوجایي خرڅ کړي؟»

ما ورته وویل: د ده الوگان یې خرڅ کړي، که ولې؟

- نه سړیه، د ده نه وو، ده ویل: من، من به یې خالته کړي وو، بیا یې ډېرې روپۍ جوړولې... من یې جگ ده، یو جایي خو تاوان کیي.

پر عیدو هاشم گران و، ویل یې: یوه ورځ مې یو کمکي ته انگور ورکړي وو، هاشم راسره ناست وو چې بېرته یې راوړل.

- ماما کور کې یې شور راته وکه، ځې زر یې بېرته ور وړه.

هاشم را برگ شو: خراب شی چاته ولې ورکیې، که دوی دې نه ویني، خدای خو مو په سر ولاړ ده. د هاشم خبره رایادېږي، بیا مې چاته خراب شی نه ده ورکړی. که سبزي وي، که میوه ځې تلم یې هاشم مې نېغ سترگو ته ودرېږي.

عیدو سره د هاشم ډېرې خبرې وې. ده ته نورې نه وریادېدې، ویل یې: بله ورځ ځې راغلې، نورې خبرې به یې در وکړم، دوکانداري ده دماغ په جای نه دي.

ما ورته سبا ته د خپل راتگ وویل، خدای په اماني مې ترې واخیسته، را ووتم چې هاشم پیدا کړم. له سړک واوښتم. د رومیانو لوی، لوی پټي وو، هر پټي کې بزگران په کار لگیا وو. ځای - ځای د اوبو شرار و، څو قدمونه مې چې واخیستل، یو سپین ږیری مې ولید، دېوال ته یې ډډه وهلې وه:

- کاکا، هاشم پېژنې؟

- وو، څه دې کاوه؟

- په کار مې و...

- ځه خوار سې، له لېونیانو مه څه غواړه، مه يې ورکوه!

ما وې سپين ږيری به يې کيسې وکړي، خو هغه په يوه متل، خپله ټوله کيسه راته وکړه.

څو پولې مې ووهلې، هغه ونې چې عيدو راته ښودې، را ورسېدې. مخامخ مې وليدل، يو سړی را روان دی. ژېړه کورتۍ يې اغوستې، لښته يې لاس کې ده، دوه ماشومان ورپسې دي... گرمي وه، ما وې دا لکه چې هاشم دی، ځکه يې کورتۍ اغوستې، واده کې مې هم ليدلی و، چې څو واسکټونه يې اغوستي وو.

چې ور نږدې شوم؛ شک مې سم و، هاشم و. زه يې نه وم ليدلی، مخامخ ورته ودرېدم، سترگې يې راجگې کړې:

- هاشم کاکا! ستړی مه شې.

- څوک يې، له کومه راغلی يې؟

- له کابله راغلی يم.

- ځه لاړ سه، څوک دې مړ نه کي، زوبل يم.

هاشم همغسې روان و، واړه، واړه قدمونه يې اخيستل، ځمکې ته يې کتل، لښته يې شاته نيولې وه، ورو، ورو يې خوځوله. زه يې ترځنگ روان شوم. له ژېړې کورتۍ لاندې يې، دوه واسکټونه اغوستي وو. سور رنگ (سپخېدلی) پکول يې په سر و. لاندې يې سپينه خولۍ وه. مخ يې را واړوه:

- ځه، خپله لار وهه، څه مې کيې، زوبل يم...

ده همدا یوه خبره وکړه، تر کوره ور پسې وم خو ونه درېد، دی ننوت.
زه یې د کور دېواله سیوري ته کېناستم. دمه مې جوړوله، چې له دروازې یو هلک را ووت، سترې مه شي مو وکړه، دی د هاشم وراره و، ناصر نومېده، بیا مې ورته د خپل راتګ هدف ووایه، ده ووې: « دلته خو ناستی نه کېږي، راځه حجرې ته، پلار ته مې غږ کوم، د هاشم کیسې به درته وکړي.»

حجرې ته یې بوتلم، ناصر ووت، لږ وروسته د خپل پلار (تراب) سره راغی. تراب د هاشم ورور و. جوړ تازه مو وکړل، کیسه مې ورته وکړه، نور تراب ته غوږ شوم.

- زه ترې کشر یم. دی له اویاوو اوښتی، اتیاوو ته به نږدې وي. خو داسې تکړه ده، اعتبار وکه، له دغه جای نه یې خوسې که، ګردېز ته به پیاده رسېدلی یي. سترې کېږي نه، له وړکیتوبه هم دغسې ده. ډېر کاریګر وو. اوس خو دلته را کډه سوو، مخکې د لوګر محمد اغې، ابازک کې اوسېدو، هاشم همله زېږېدلی ده. موږ له پلرونو او نیکونو دهقانان وو، مځکې کرو. هاشم بېخي اغه د چا خبره طلفک و ځې ځمکې به یې کولې.

پلار به مې کیسه کوله: (ځې سترې به سوم، دمه به مې جوړوله، کور ته به راغلم، ځې بیا به پتي ته ورتلم، نیم پتی به اوښتی و، هاشم به اړولی و. د لسو کالو شاوخوا به و. خو دیسې ریني و.)

پلار به مې داسې چرت ورته وړی و. ځې کله به یې د هاشم د وړکیتوب کیسې کولې.

تراب چوپ شو، هاشم را ننوت: خندل يې، کېناست. ما ته يې مخ را واړوه:

ـ هههه، خپه نسې، چیشی لیکې؟ څوک دې مړ نکي...

هاشم څو شېبې بنه و، وروسته بیا غوسه شو. پر تراب ور نېغ شو، څو تېرې، تېرې کنځاوې يې وکړې؛ ووت.

تراب خندل، ما ته يې وکتل: دغسې، سړی ده نو...

ما ورته وویل: ښه، کیسه کوه.

ـ ډېر تکړه و، دومره تکړه و، سبق به څې څرنگ د ملا له خولې ووت، ده به یاد و. کومه ورځ به څې جومات ته نه و وتلی، ملا به کور ته ورپسې راغی. په دا خپل لیاقت ور گران و.

ناصر له دسترخوان سره راننوت، تازه سابه يې پاخه وو، یخې شړومبې ور سره وې، د غنمو له ډوډۍ سره يې خوند کاوه، مړی مو هم خوړله، تراب کیسه هم کوله: هاشم خو داسې له برخې خالي لېونی ام نه ده، پورته خوا کې مو د اکا زوی ده، هغه ته ورغلی و. هغه په مړی ناست و، خو هاشم څه ورته ویلي وو، سره غوسه سوي وو، هغه وار پرې کړی و، هاشم کور ته راغی. سبا مې اکا زوی وختې راغی، څې ښنه ترې وغواړي، ویلې يې په خدای تړله شپه خوب کې ډارېدم، ماران راته پښېدل.

تراب د شړومبو گیلاس په سر واړوه، تېغ يې وویست، خپله پاتې کیسه يې شروع کړه:

- رښتيا، هاشم له ديني کتابونو فارغ سه، بيا يې کلي کې له مرزا خط زده که، همدې دهقانۍ کې هم سره مصروف و، ادې به مې ويل: ډېر شوخ ځوان و. زموږ يو سپی و، گول ټېری به مو ورته ويلې. په هاشم ډېر گران و. ورسره گرځېده به، ځان سره به يې غونډېو ته بيوه، گرځاوه به يې. د خوراک غم يې هم ده کاوه... کوترې يې ام ساتلې. بس شوقي و نو. د ځوانۍ انډېوالان يې ام ښه ډېر وو، کلي کې يې ښه سات تېر و. هم يې مزدوري کوله. وطن کې ډېر خوشحال و.

کله چې روسان راغلل، کور مو بمبار سه، موږ بچ سوو، شپه په شپه مو کډه وتړله روان سوو. د پاکستان (کچه گړۍ) کې مو واړول، خو د هاشم کلی او وطن نه هېرېده، ادې به ويلې «ځې ورياد به سه، زړل به يې.»

کچه گړۍ کې مو ام گوزاره روانه وه. هاشم مزدوري کوله، خو د کلي غونډې نه و، د شپې ډېر گرځېده. کله، کله به ځو شپې کور ته رانه غی، چېرې به تللی و. يو وارې يې راتگ ډېر وځنډېد، ډېرې ورځې تېرې سوې بيا يې چا احوال راوړ ځې: «هغه تللی افغانستان ته جهاد کيي د پلانکي ملا سره ده.» هغه ملا ځې دی ورغلی و، کليوال مو و، ډېر تکړه سړی و. د هاشم پخوانی د ښکار انډېوال و، يو جای به ښکار ته تلل. په شنه لړه به ووتل، غرمې به يې ځو سويې ښکار کړې وې. د دوی کلي کې وړوکی جوماتکی و، هلته به کېناستل. دا جوماتکی يې د غونډۍ په ډډه کې جوړ کړی و...

مړی مو وخوړه، تراب خان دسترخوان ټول که، له حجرې ووت. له کړکۍ مې ور غږ که:

ـ که هاشم دې ولید را یې وله...

واړه ماشومان را سره ناست وو. دوی ټول د تراب زامن او د هاشم ورېرونه ول. د حجرې یې جلا انګړ و. وړه چوتره یې لرله، مخې ته یې سره و سپین ګلان ولاړ وو.

تراب خان چې راغی، ورته ومې ویل:

ـ دا حجره مو نوې جوړه کړې؟

ـ والله پرو سږ کال مې جوړه کړه. لږ مې ځان ورته قرضداری که، خو نه کېده. دومره مېلمانه راځي، ځې توبې باسه، ټول هاشم ته راځي؛ چا یې ځې عکاسي لیدلې؛ ځان را رسوي. ها بله ورځ خلک له بغلانه ورته راغلي وو، اعتبار وکه، درې بجې لاړل.

ما ته ځان ملامته ښکاره شو، تش لاس راغلی وم. د دوی دومره وس نه و، مېلمانه پرې ډېر ول. کلیوال خلک مېلمه ته ډېر ځان په عذابوي. تراب که ډېر سخي سړی هم وي، له مجبوریته به هم تنګ وي، دومره مېلمانه راتګ، د دهقانۍ ژوند...

تراب غاړې تازه کړې: ډېر خلک یې تنګوي ام، لس کاله پخوانۍ کیسه درته کوم، ایتا خو به ورته پام وي؛ هاشم بې چوکاټه خبرې ډېرې کوي، لوڅ غړېږي. خلک خو یې مني، ځې والله هاشم رښتیا دغسې ده. بله ورځ چا بېولی و کابل ته، هلته یې ځو نجونې ورته ګډولې. هاشم ځې ورننوتی و؛ په ورته ترې راوتی و. نیمه شپه وه، ځې کور ته راغی. بیا به ځې چا هغه خلک وریادول، کنځاوې به یې ورته کولې. بس خلک یې نه پرېږدي، ځې نوی شی واخلي بیا چا ترې پټ کړی وي. نه یې پیزار ترې پاتې ده، نه جیبونه...

یو وخت بارانونه ام وو، چا موټر ته خېږولی و ځې راځه ګردېز ته دې ولم. ورسره تللی و. هغه خلک یې کور کې مشرانو سپک کړي وو ځې په دې لېوني چیشی کوئ؟ ماښام و، د ګردېز بازار کې یې پرېښی و. هاشم سره یوه روپۍ ام جېب کې نه وه، بس بیا د یوه ډرېور زړه پې بد سوی و، ډېګۍ کې یې راوست.

ګلانو کې مې سترګې ګنډلې وې، د لمر زېړې پلوشې پرې پرتې وې، ښکلي ښکارېدل، تراب ته مې مخ ور واړوه: دا انګړ کې ګلان خو ډېر ښه بوی کوي، حجرې ته راځي. دا کوم رقم ګلان دي؟

- والله که تر خبر یم، دغه هاشم راوړي. خدایزده چا ورکړي که اخیستي یې دي. دغه منځ کې ځې ولاړ ده، دا سپینې پاڼې یې ځې دي، دا ډېر پرې ګران ده. عکسونه یې ام ورسره اخیستي، د زوی تیلیفونه کې مې سته.

- هاشم کور کې وو، که وتلی و؟

- کور کې دی، غوا سره ناست وو. پرون مې کوټه کې خبره یاده کړه ځې غوا شیني (یو ډول حشرې، چې د غوا پوستکي کې پیدا کېږي.) کړي. د ده هغه خبره ماغزو کې وه، اوس مې ځې لیده، په ګوتو یې ترې شکول. په مال یې ډېر زړه بدېږي. یو یې په کمکیانو ډېر زړه بدېږي. ته اعتبار وکه، یما یو بچی ده، اتو کالو ته رسېږي دی یې تر اوسه په غېږ کې ګرځوي. زه ورته وایم ځې کیې وه سړیه په دا معیوب لاس؟

- د لاس یې څنګه کیسه وه؟ دا ولې کوږ دی؟

ـ سرک ته څې ووتې، هلته یو کس ده، د تور په نامه، د لرګیو ټال یې ده. هغه ته ورسه، کیسه به یې درته وکړي، هغه د جنګ جریان کې و.

د تراب خان بل زوی (ایوب) د چای سره راننوت. دی هاشم ته ډېر ورته و. ایوب ته مې وکتل:

ـ ته خو لږ هاشم ته ډېر ورته یې.

ایوب ته لکه چې خبرې خوند ور نه کړ، له ځان سره وبونګېد...

ما تراب ته وویل:

ـ تاسې خو درې وروڼه یئ؟ هغه بل چرته ده؟

ـ هغه نسته تللی جلال اباد ته، مزدوري کیي.

ـ هاشم کله، کله ورځي؟

ـ نه، مه یې ښیه.

ـ د هاشم هره ورځ همدا حال وي؟ کنځاوې کوي؟

ـ مسلمانه! په دې به شکر وکاږې، زه یې ویستی یم، دا سر مې دولس ټکه ګنډلی، ده خو ډېر ورانی کاوه. وار یې ام کاوه...

ـ جنګ دې و ورسره، که څنګه؟

ـ وو، یو کلیوال یې خپه کړی و. ما نیصیت ورته کاو، ده سوک را وار که، دبي ته مې ورځې لاس که، په پښو مې وواهه. دی خو په قد لوړ ده، تبر یې راخطا که، په تېرو،... اعتبار وکه هسې زړی مې پاتې و.

ـ پوښتنې لږې ډېرې کوم خو څنګه یې کوې، ته یې چې خوږ کړې؛ بیا پښېمانه و؟

ـ مسلمانه، ډېر زړه یې راباندې بد و. سر به یې ړچاوه څې دا مې څه بد وکړل. له کوتې به نه وت، سر ته به مې ناست و. پوښتنه به یې کوله،

څنگه يې؟ څنگه يې؟ لکه هغه ماشوم څې دلاسه کيې راته ويل يې: «تا دې خدای ښه کي، ولم دې کابل ته، چکر درکوم، گرځوم دې...»

- بس خو گيله مه کوه.

- خود نو څې دی عاجز روغ وای. ځوانی کې دومره سرشاره و څې پوښتنې يې مه کوه، خو چا ته يې د نوک غوندې ضرر هم نه رساوه، بېخي بې اوداسه نه گرځېده. يمورِ په پلار په دا زمنو کې دی گران و. ديسې ځواني يې وه، څې يمورِ ماما يوه ورځ چرته تلو، غنم يې له چا اخيستي وو، دی ور سره تللی و، هاغه کس حبيب نومېده، قومندان و. ماما مو ويلې څې ور ننوتو، راته ويل يې: «عبدالرحمن اکا دا څوک ده؟» يايي ما ورته وويلې څې دا مې خوريه ده. ماما مې خندل؛ وايي ټول ورته حيران وو، څې دا څه رقم خوريه دې ده، دا څه رقم ځواني خدای ورکړې، دا څه بشراو، دا څه رقم زورې، زورې خبرې کيي. دا اندام، دا سترگې غټې...

تراب د حجرې په کوز سر کې ناستو هلکانو باندې سترگې برگې کړې، ورته غوسه و چې ولې خاندي... بيا يې ما ته مخ را واړوه:

- اوس لېونتوب کې ام گوره بدرنگه نه ده، سترگو ته دې يې پام ده، پخوا دی په زرک مشهور و. ټولو به ويلې څې زرکينې سترگې يې دي لکه د زرک. څې د هاشم په ځوانی به خبره کېده، ماما به مې هر وارې د حبيب ياده کوله، څې د هاشم قوارې حيران کړی و...

بل وارې يما د پلار سره مزدوری ته پاکستان ته تللی و. هغه وخت کې تنکی په ځوانی راغلی وو. نېر يې ويسته، ده وايي دې نېر کې د مومن خان او شيرينی ټيکی کولې. هغه د کار چښتن يې څې ټيکی

واورېدې؛ دی يې راجګ که. د پلار له خولې څې يوه نيمه مياست مو کار وکه، په خدای که يې هاشم کار ته پرېښی يي، بس خالي ټيکی به يې پې کولې. او مور سره يو رنګه پيسې يې ده ته ام ورکړې. کرار به يې کېنولی و، سهاري چای به يې ام ورته راوړ، پراتې... څې راتلل يمور پلار ته يې ويلي وو څې دا زوی دې راته پرېږده.

ما ورته ووې: هاشم خو اوس هم په خلکو ګران دی.

- ډېر پرې ګران ده. انور يې بولي، هغه جمعه کې يو وار ورته راځي، وايي هاشم خو يما پير ده. يوه ورځ مې هاشم سره جنجال کړی و، خپه کړی مې و. همدا انور درې وارې راپسې راغی، ږيرې نه يې ونيوم څې دا به نه خپه کيې.

يو خو هاشم کې دا خبره ده څې پاچا ورته ناست وي، که ګدا... هغه خبرې کيي، خبرو کې بدلون و بندشت نه راځي. د پارلمان وکيل و، دی يې غوښتی و، زه ام ورسره تللی وم. وکيل دې خبرو، خبرو کې «چين» ياد که. هاشم ورپسې برګ سه وايي: څه کيې؟ چين و امريکا و روس؟ د خپل بام واورې دې اچوه!

تراب خان ته زنګ راغی، ډېر تېز، تېز ورسره وغږېد، پوی شوم چې لانجه ده. زنګ يې چې قطع که، ما ته يې وويل:

- زه لږ دې پورې مځکې ته ورځم. چا کيل ورکې اچولی ده، که څه غضب ده. بېرته راګرځم. نورې غورې به د شپې کوو. د شپې ما سره يې. اوس دې خوښه کرار ويده سه.

تراب خان ووت، واړه يې هم وباسل، او د حجرې دروازه يې را بنده کړه. لږه سترګه مې پټه کړه، نور خوب نه راتلو، بهر ووتم. د هاشم دوی

حجرې ته سره غرمه راغلی وم. خبرې وشوې، په ساعت پوی نه شوم، گورم چې ماسپښین تېر شوی، بجې له درېیو اوړي. د دوی د ختو کلاوې وې، شاوخوا يې ټوله مځکه پټیو نیولې وه، څنگ ته یې د تره زامنو کورونه وو، لمر تېز و، ځای، ځای ونو سیوري جوړ کړي وو. د کابل او لوگر لویه لاره یې د کور له مخې ښکارېده. زه د همدې لارې خواته په پټیو کې روان شوم. لږ قدمونه مې چې واخیستل، اوبو ته ودرېدم، اوبه داسې سړې ککړې وې، سړی نه پرې مړېده. د بانجانو په پټي کې عمر خوړلی دهقان ناست و، له څهرې یې مالومېده چې ورځ یې څومره ستومانه تېره کړې، سلام مې ورته وکړ. له جوړ پخیر وروسته یې یو پټکی راته ونیو، سنځینه بوجۍ یې ترې تاو کړې وه.

ـ واخله، د کیشتو (په لمر وچ زردالو) اوبه دي.

څو غوړپونه مې وکړل، ډېره خوندوره ذایقه یې وه، د پټکي سر مې بند کړ، ورته ومې ویل: له دې پټکي دې دا سنځینه بوجۍ ولې تاو کړې؟

ـ دا خو گرمي ده، څې اوبه تودې نه کړي، دا سنځینه بوجۍ ورځې لنده کو، زیاتي اوبه نه تودوي.

دا دهقان اکبر نومېده، له لرې کلي راتلو، ټوله ورځ یې لمر ته په همدې پټي کې تېروله، د بانجانو تر کرلو راواخله، اوبول، پالل، شو کول، ان تر خرڅولو پورې یې دی زیموار و، گټه یې دا وه چې د ځمکې له خاوند سره په منځ شریک وو، که یو پټي به دوه سوه منه، بانجان (رومان) وکړل، سل منه پکې د اکبر وو.

اکبر له هاشمه ډېر خوشحال و، ویل یې:

ـ د دې ويالې لاره نه وه. لويانو خو ترې ټوپ هم کاوه، خو وړو ته ډېر مشکل وو، هاشم ما ته ياده وکړه، ځې دلته يوه تخته کېږده. ما غوږ ونه گراوه، بله ورځ ځې راغلم هاشم په دا مات لاس تخته راوړې، اېښې يې ده. ډېر زړه خوږی ده...

اکبر چې کيسه خلاصه کړه، يو طرف يې وکتل، په لاس يې له سترگو لمر پناه کړ: هاغه ده، هاشم...

له اکبر مې خدای په اماني واخيسته، د هاشم خواته ته ور روان شوم. چې ور نږدې شوم، ومې ليد چې د توت د ونې لاندې د دهقانانو د دمې يوه زړه په لوگو توره کوټه ده، هغې ته ننوت، زه هم ورننوتم، سترگې يې راباندې ولگېدې، کېناستم، دی غلی و، بيا يې ووې: مړی دې وخوړه؟

ـ هو هاشم کاکا!

ـ څنگه خلک وو؟

ـ څوک؟

ـ وروڼه مې؟

ـ ښه خلک وو.

هاشم څو شېبې تور دېوال ته تکيه کړې وه، هېڅ يې نه ويل... پاڅېده، له کوټې ووت، زه ورپسې شوم سړک ته ورسېدو، پورې غاړې ته د لوی خوراکه دوکان شاته کوټه وه، همملته ننوتو.

هلته ډېر خلک ناست وو، جوړ تازه مو وکړل. دې دېره کې هم د هاشم ملگري وو، ويل يې: هاشم ورځ کې يو وار سلام را اچوي، چای ته راځي...

هاشم همله پاتې شو، زه له کوټې ووتم، چې (تور) پیدا کړم، کوم چې تراب خان راته ښودلی و او ویلي يې وو چې د هاشم زخمي کېدو پر وخت حاضر و، له همدې دوکان نه يې درې څلور دوکانه مخکې د لرگیو ټال و، ده کیسه داسې وکړه: «دلته خو جنگونه زیات وو، هاشم خو عادت ده گرځي ډېر. سهار له کوره را وخوت، مخکې هغه غاړې کې غورفه وه، همله ناست و. چې جنگ شو... موږ ننوتو، سرې مرمۍ ورېدې څې جنگ ودرېد؛ راووتو... گورو چې هاشم د سړک غاړې ته پروت ده، سخت لگېدلی و، دوه ډزه لاس ته، یو ډز نس ته. په خدای موږ ویلې څې ختم ده، خو مړو کې يې سر را جوت که. بیا مو کلینیک ته یوړ، دلته ونه سوه، ښار ته مو یوړ... بس ژوندی خو پاتې سه، خو لاس يې کوږ شو...»

زړه مې ډک شو، همداسې روان شوم... نه پوهېدم چې ولې، خو د دې بازار له یو سره، تر بل سره څو، څو ځله لاړم.

بیا همغې دېرې ته ورغلم، هاشم لا ناست و. یو نوم يې اخیسته، کنځاوې يې ورته کولې، له خولې يې لاړې بادېدې، سر يې رچاوه.

ما له خلکو پوښتنه وکړه: دا هاشم کاکا، چاته کنځاوې کوي؟

- دا سړی نسته، هسې يې له خولې دا نوم را ووت. د ده خولې ته څې هر نوم ورغی، کنځاوې ورته کوي.

هاشم ته مې کتل، ږیره او ویښته يې سپین و. ما ته يې د ورور خبره یاده شوه: «هاشم خو په زرک مشهور و، ټوله به ویل څې زرکیني سترگې يې دي.» خو اوس هغه سترگې لوېدلې وې، اوبلنې ښکارېدې، لکه اوبو کې چې منه پرته وي. ډله خلک ناست وو، ورته خندل يې،

هاشم کنځاوې کولې... یوه شېبه یې په ډکه خوله وخندل، بیا یې
وویل: مه خاندئ، وبال ده.

- ته ولې خاندې؟

- زه خو ځان پورې شین یم هههههه.

هاشم په شپېتو کې، لس ثانیې روغېده، چې د تېرو پنځوسو ثانیو
کنځاوې او خپلې ګډې وډې نه وریادېدې. بیا چا زه ور وښودم...

- هاشمه دا سړی کتاب دربانده لیکي.

هاشم ما ته را مخ کړ: عجیبه سړی مې ولیدې، څې کیې، کتاب څه
کیې، کتاب کې ام فایدې نسته...

لمر لوېدلی و، ماښام نږدې و. له کوټې را ووتو، د کوټې د مخې په
دېوالونو د هاشم عکسونه لګېدلي وو، هاشم یوه شېبه ورته ودرېد بیا یې
په کنځاوو خوله واوښته، ځان یې ښکانځه... خپل عکس ته وایي:
ایتا... زه خو ایتا د لاسه داسې سومه.

هاشم همغسې لګیا و، خلکو خاندل، ناڅاپه یو موټر ودرېد. درې خام
وړکي ترې راښکته شول.

- ووو، هاشم لېونی دی.

عکسونه یې ترې واخیستل، د ده کنځاوې یې عکاسي کړې، یو یې چا
ته زنګ کړی و، موبایل یې راوړ. هاشم ته یې ونیو، واخله دا لړ بې عزته
که، هاشم موبایل ترې واخیست، خولې ته یې نږدې کړ. کنځاوې یې
وکړې، له هغې خوا دوه برابره کنځاوې ورته راتلې... مجلس خندل...
ماښام شو، هاشم له سړکه واوښت، کور ته روان شو...

دی چې پناه شو، زه لاړم د دوی د کور پورې ډډې ته د یوې ونې لاندې کېناستم، لکه څه چې مې ورک کړي وي، نارامه وم. فکر مې کاوه، چې دا خو نیمه ورځ وه له هاشم سره... څه کیسې مې واورېدې،... د هاشم خو ړیره سپینه شوه، هره ورځ یې داسې څهرې لیدلي، داسې خبرې اورېدلي، د ده څنګه زړه دی، ولې نه چوي... مرغۍ مې لیدې، ګوره ونه وه، یوه، یوه ورته راتله، ټوله ورځ په پرواز ستړې وزرې یې دمې ته راوړې. اه! د هاشم ستړیه زړه... ماښام تېرېده، د اسمان پر لمن یو، یو ستوری زیاتېده... د هاشم دوی کور ته روان شوم. ګورم چې تراب خان د دروازې مخې ته راته ناست دی.

- ناوخته دې که.

- د هغې ونې لاندې ناست وم، سړه هوا وه، خوند یې راکه!

حجرې ته لاړو. د تراب خان زامن له مخکې هلته ناست وو. دوه یې له نورو واړه وو، ما ورته وویل:

- هاشم مو کله، کله ډبوي؟

- نه، منده راپسې کیي، خو وار نه کیي.

تراب خان خبرې کې راولوېد: نه، هاشم په وړو قطعن وار نه کیي، د ورځې خدایزده څومره روپۍ دې هر یوه ته ورکیي، کله له دوکانو شی ورته راوړي،... د سکریمو ولا راسي، هاشم سره څې روپۍ نه یي، کباړ ام ور باسي، وړو ته سکریم راوړي.

- هاشم پیسې له کومه کوي؟

- زه یې ام ورکوم، خلک یې ورکیي، ها بله ورځ چا نوي کالي ورته را وړل، خو د ده عادت ده، نوي شیان نه اغوندي، ټول ځړېږي کور

کې... دا اوس يې لس جوړه کالي نوي اېښي... دی دا زړو کې خوشاله ده.

موږ کيسې کولې، چې مړی يې راوړه. د چرګ ښوروا يې جوړه کړې وه، هدېوکينو خوريو کې يې د غنمو مړی ماته کړې وه... د پټي تازه سبزي ورسره وه... هاشم هم را ورسېد، د دسترخوان کوزې غاړې ته کېناست، پکول يې له سر لرې که، ما ته يې را مخ کړ: له کومه جای راغلی يې؟

ـ له کابله؟

هاشم په مړی بيا د چا ګيله اچولې وه، تېرې تېرې يې ورته ويلې. تراب خان ته مې وويل: دا چا ته په غوسه ده؟

ـ خدايزده، نسته. دی څې غوسه يي هر نوم يې څې خولې نه ووت. نور به په هغه نوم دی ببخي څوک پيزني نه.

مړی چې وخوړل سوه، هاشم ووت، خو پکول يې پر بالښت پاتې شو. وړو چای راوړ. تراب مې وپوښت: وايي هاشم باندې ډاکتران ښه نه لګېږي، نن هغه دوکان کې خلکو ويل، رښتيا؟

ـ دا خو څې دی زخمي و، لاس مو ور پانسمان کاوه. پورې کلينيک ته مو يوړ، د ډانګټر عاجز ډېر زړه پرې بد و. له لاسه يې ټکونه ور ويستل، هاشم څې ها چړې ليدلي، دا فکر يې کړی، څې لاس يې راو شکاوه، څېرې يې کړم. ځکه اوس بد ترې وړي...

ـ لاس يې ولې نه شو جوړ؟

ـ نې پرېښوده، ببګا به مو ورپتی که، ګهيځ به يې پتی متی تولې ترې شکولې وې، څې خپله ښه کېږي، نه يې دوا خوره، نه يې ستن لګوله...

هاشم راغی، پکول یې واخیست، روان شو، خو له دروازې بېرته راوګرځېد، کېناست، د واسکټ جیب ته یې لاس کړ، اول یې دسمال راویست، بیا یې چپ لاس کړ، غوټه چرس ورسره وو. زه ورته په خندا شوم:

ـ هاشمه چرس هم وهې؟

ـ خود.

ـ ولې؟

ـ غمونه وو... اندېښنې وې، ههه.

ما ورته په نا امیدۍ کتل، د ده غم دومره وړوکی نه و چې نشه یې ډوب کړي، خو... ده چرس د ړنګو نصوارو په ښیښه کېښودل، اور یې ورکړ، په تور لوګي یې خوله کېښوده، تېر یې کړ... ټوخي ونیو، سترګو یې اوښکې وکړې... بیا یې سر پرې ټيټ کړ...

چرس ویلي شول، ده دیوال ته تکیه ووهله، تراب په زوی غږ وکړ.

ـ منډه، د شیرینۍ کتاب راوړه...

تراب ته مې وویل:

ـ څه وایې، د مومن خان او شیرینۍ کتاب؟

ـ څې چرس وڅکیي، داسې ښکلی یې وایي، ډېر فساتي ده، ټیکۍ یې ډېر خوند کيي، یو خو یې ها ساده ویل یې، دی ټیکۍ کې اچیي.

ـ دا کوم کتاب دی؟

کوزه غاړه کې ناست ماشوم را غږ کړ: ملي هنداره.

کتاب یې را وړ، هاشم ته یې ورکړ، هاشم کتاب خلاص کړ، یوه شېبه غلی و، بیا یې وغورځاوه:

- ایسته یې که...

مور کیسې کولې، تراب خان راته د دهقانۍ د ژوند سترياوې ويلې، څې هاشم زمزمه را واخيسته...

درځئ، درځئ څې سره ځونه
د شیرینو ولور مې غواړي په بارونه

تا د سفر موزې په پښو کړې
د ژېړو گلو باغ په چا سپارې مینه؟

ما د سفر موزې په پښو کړې
د ژېړو گلو باغ په خدای سپارم مینه

هاشم کتاب مخې ته نېولی و، خو سترگې یې چت کې وې، له یاده یې ویل: «مومن خان په شیرینو عاشق و، د تره لور یې وه. ولور یې ترې غوښت، څې مور اوه وروڼه یو، اوه باره غواړو، مومن خان هندوستان ته ووت، څې راغی، چا اوازې ور وړې... دی په نیمه شپه د شیرینۍ کور ته ورغی، له هندوستانه یې هم ځان سره یو دوه جلکۍ را وستې وې. د شپې څې کور ته ور واوښت وای هله غل ده، ظفر د شیرینۍ ورور چاړه راواخيسته...

هاشم کتاب بند کړ، سترگې یې پټې کړې، لږې شېبې وروسته یې بیا زمزمه راواخيسته:

داسې ور وښويده مومن
د کټونو لاندې تېر سو، په زمين
شيرينۍ بي بي ته ودرېده په سره

خدای دې خیر کړي سخت مقام دی، د خطره
لاس یې کېښود په سینه د گل صنمه
شیرینی بي بي سوه پورته له عالمه
یوه ناره یې له خولې وخته په زوره
وایي غل دی، ظفرخانه، زما وروره
دا ناره شیرینې وکړه له هیبته
له هیبته یې ټول ورونه سول اوچته
په یو دم کې له مومنه سول چاپېر
مومن خان غریب یې منځ کې که راگیر
دا وروستی گوزار ظفر وکړو له غمه
مومن خان په ځیگر ولگیده سمه
شیرینی بي بي راځه وروستی دیدن ده
اخري سلگی مې واوره زنکدن ده

هاشم دا منظومه له یادو په یوه ساه وویله، اخر کې یې ووې: « بس مومن خان او شیرینی دواړه مړه سول. هههه خواران. ورک یې که؛ دې وطن کې دې څوک مینې ته نه پرېږدي.»

هاشم یوه خبره هم بله ونه کړه، له حجرې ووت. تراب خان ته مې یاده کړه:

- دومره روغ سړی څنگه یو دم لېونی شو؟

ده په نا امیدی راته وکتل، پر برېتونو یې گوتې تېرې کړې: له هجرته وروسته څې وطن ته راغلو، هاشم د مرکې او خبرې سړی و. کله، کله به

ملګرو سره پاتې کېده. یوه شپه چېرې تللی و. ډېر وخته راغی. ادې ته یې ویل: کمبلې راباندې واچوه. د ټولې دنیا ساړه په ما ننوتي ده. ویده سو، څې راجګ سه، نور نو همغه هاشم نه و. کله به یې ویلې: مرغه یم، الوزم. کله به یې منډې وهلې، کوټه کې. کله به یې... مور به له خندا ورته شنه وو. نه مو منله، ټوکه مو ګڼله. ډېر به مو ورته ویل: هاشمه! همدومره ټوکې بس دي. خو لنډه یې دا څې خبر سوو، هاشم ټوکې نه کولې... لېونی سوی و. په پلار مې ډېر ګران و. بیمار و، د هاشم لېونتوب بیخي کټ کې وغځاوه... همغه ارمان کې مړ سه، هاشم یې بیا روغ ونه لید. له هاشمه مو ډېرې پوښتنې کولې، خو د همغه شپې جای یې راونه ښود. بس خو د چا نه لورېده، وزر یې رانه پرې که. چیشی یې پرې وخوړل. مور اولو وختونو کې ډېر ورسره څور کې و. ډېر زور یې راکوه، اوس خو ورسره عادي سوو. غره کې ام لوېدلی و، کېدای سي اغه وجه وي. خو له وړه کتوبه بیخي د لېونتوب رګ نه و ورکې... بس خو د نصیب خبرې دي...

تراب خان دې خبرې غلی کړ، خپه شو... سبا ته یې کاروانه لرل، لاړو. زه ګوښې پاتې شوم.

د هاشم غږ ښکلی نه و. خو ډېر سوز پکې و، زما حالت یې شاعرانه کړ، باید ستوري مې لیدلي وای. د حجرې انګړه ته ووتمه، د هغو ګلانو منځ کې کېناستم چې هاشم کرلي وو، د هاشم ټیکی مې په زړه خورې وې... له ستورو ډک آسمان ته مې کتل، نور هر څه رانه هېر وو. کله، کله به تېز باد تېر شو، پشا به یې راغله. ګلونو خوشبو کوله، هاشم نه و، خو ما یې په یاد د حکیم جان فریادي هغه سندره زمزمه کړه:

د ازل پـه ورځ چـې برخـې وېشـېدلې
بختـه چېـرې وې څـه چـارې دې کـولې
چـې یـې دا غمجنـه برخـه درکولـه
نـو تـا ولـې کـوکې چیغـې نـه وهلـې؟
ورتـه ویـلي بـه دې وو چـې زمـا ربـه!
زه غریـب یـم مـا تـه برخـه راکـه ښـکلې

پام مې شو چې غږ را نه لوړ شوی. زمزمه مې پرېښوه. شپه تر نیمایي رسېدلې وه. حجرې ته راغلم، باید ویده شوی وای، سبا ته ډېرې کیسې پاتې وې.

د شپې مې ښه خوب و نه کړ. نه پوهېږم خو نا ارامه وم، سحر ته مې انتظار کاوه، د کلي دستور و. د سهار شپږ بجې نه وې، چې چای مو وڅکلو. زېړ کوچ ور سره وو. په مړه ګېډه مې وخوړل. تراب خان اجازه واخیسته، لاړو چې پټیو ته اوبه ولګوي. هاشم لا نه و راوتی، زه را ووتم. پورې سړک باندې یو، یو موټر تېرېده، هوا لګېده، شاوخوا یوازې دهقانان ښکارېدل. په ونو کې مرغۍ چوښېدې. پټیو کې ګرځېدم. بیا په یوې پولې کېناستم. لمر ورو، ورو راخوت، د ژوند یوه نوې پاڼه راوښته... لا هم د یو، یو کور دروازه خلاصېده، خلک را وتل، بېلچې به ورسره وې. د سړک د غاړې دوکانونه خلاص شول. ور روان شوم چې عیدو ووینم. غرفې ته ور ننوتم. عیدو چاته بوره تلله. چې را اوزګار شو، د حال احوال او پروني شپې پوښتنه یې وکړه. ما ورته ټول

حال لنډ، لنډ ورکړ. بیا مې ورته ووې: هاشم خو بېگا ډېرې سوې تېپې راته وکړې. له یادو یې وې، ظالم.

ـ وو، رښتیا د دې سړک په کوز موړ کې څې تاو سې، چپ لاس ته د غرونو په بېخ کې، هلته یو کلی راځي، هلته یې یو سپین ږیری ملگری دی. کوړی ماما یې بولي، ان د ځوانۍ ملگری یې دی. هاشم هغه سره ډېرې ښې تېپې وايي. که پیدا دې که، د هاشم ډېرې کیسې به درته وکړي، ما ته هم کله، کله چې ښار ته ځي؛ راگرځي.

ـ عیدو! دا سړی پیدا کوم، زه به ورشم.

ـ اوس مه ورځه، ماسپښین نه وروسته ورسه. شپې ته زموږ کره ځان را ورسوه. که هملته پاتې سوې، بله شپه به ضرور ما سره کوې. اوس هاشم راځي، دا وخت یې عصاب ارامه وي، ډېر ښه غږېږي.

عیدو پرون شپه فکر پرې کړی و، د هاشم ځینې کیسې وریادې سوې وې، ورته غوږ شوم:

ـ ما خو پرون ام درته وویلې، دا یو کال کېږي دوکان ته راځي، یما هره ورځ زړه پرې بدېږي، خو یوه ورځ مې ډېر زړه پرې بد شوی. یو کس ده، کابل کې اوسي، هاشم ډېر پرې گران ده. هاشم یې کابل ته بېولی و، هلته یې څو شپې ورسره کړې وې. کالي مالي یې هم ورته اخیستي وو. لس زره افغانۍ یې هم ورکړي. هاشم څې مازیگر راغلی، دې پورته بازار کې ښکته سوی، دوکاندار څې روپۍ ورسره لیدلي؛ په یوه بهانه یې شپې ته پاتې کړی، ورته ویلي یې دي، گپه کوو، هوا یخه ده، گرم دې ساتم... د ژمي شین سهار و، د دوکان مخته ناست وم، هاشم راغی، وایي: نسوار راکه!

ما نسوار ورته را واخیستل، ده جیبونو کې لاسونه واچول، کله یو جیب گوره، کله بل. پیسې یې پیدا نه کړې. ما ته یې وویل: پرون د شپې مې په دې گناهگارو ولیدل څې لس زرگونه راسره وو، دوکاندار شپې ته په زور پاتې کړی وم، رانه غلا کړي یې دي. سترگو کې یې اوښکې راغلې، څادر یې مخ ته ونیو... بیا چا ورته وویل، لاړ شه حکومت ور پسې راوله، هاشم همداسې وکړل، حکومت راغی، دوکاندار یې بوتلو، دوکاندار نه یې پوښتنې کړې وې، هغه اقرار نه کاوه! یو عسکر دوکاندار ته څپېړه ور اچولې، هاشم را مخکې شوی: خیر، وهئ یې مه، وهئ یې مه... پیسې مې ور ښنلي. نو هاشم دغسې سړی ده!

عیدو د دوکان مخې ته سبزي سیخوله، را غږ یې کړ: هغه دی، هاشم راغی.

هاشم رانوت. چې څنگه کېناست، عیدو ورته وویل:

ـ هاشمه، هغه د موسسې ولا ښه شول.

د هاشم څېره وغوړېده، خوشحال شو. ما عیدو ته ووې: دا څه کیسه ده؟

ـ د لوگر مس عینک کې د چینایانو موسسه ده، کان ته راغلي دي. یوه ورځ هاشم ما سره ناست و، چا ووې: د مس عینک د موسسې چینایانو موټر ټکر کړی، ډېر سخت زخمیان دي. هاشم په دې خبره ډېر خپه سو، طبعیت یې خټه سو، ما ته یې ویل: دا څه بد وسول، ای های! دا خو یمور د وطن مېلمانه وو...

ما ورته ووې: تر اوسه یې نه دي هېر؟

- هو، اوس يې هم پوښتنه کيي، دا اوس دې نه ليده څومره خوشحال سه.

- دی خو ډېرې خبرې کوي، مړ کړم، گوډ کړم ټوپک او مرگ يادوي، له خبرو خو دومره زړه سواند نه دی؟

- نه، هاشم خو څې په خوله څه وايي، هغسې نه ده، ما څه درته وويلې، د چينايانو پوښتنه خو به يې سل وارې رانه کړې يي.

هاشم زموږ خبرو ته غلی غوږ و. شايد له نورو وختونو د ده سهار کې حالت لږ ښه و. بيا ودرېد، د مستو کټوه يې را کوزه کړه، د الماری له خانې يې کاشوغه او کاسه (چې عيدو ده ته څانگړې اخيستي وو.) را واخيستل، د دېرشو مستې يې وتللې،.. ټولې يې زر، زر وخوړې. عيدو ويل: هاشم له مستو سره ډېره جوړه ده. دی غريب خو لاس ته ډېر خپه ده، بس څې راسي فقط مستې خوري، وايي مستې هډوکي ته فايده رسوي.

هاشم ته مې ووې: هاشمه، وروسته کوږې ماما ته ورځو، ټيکی ورسره کوو.

هاشم ځواب را نه کړ، يوه شېبه يې راته کتل، بيا يې وويل: آسمان شين ده؟

- هو، هاشم کاکا!

- څې ورېځې سي، وغورېږي، تورې لږې سي، داسې مريض يم، ما نه نه ځي دا مرض، زړه مې خوړين ده، سترگې مې خوړينې دي...

- دا ولې؟

ـ بس خو مرض ده راغی. سوچ، سوچ... یو وار مې زړه ښه نه سو. لکه ونه څې وچه سي، ها ونې څومره غټې یي څې مرض وکي، ایسته وچې سي. خو یا به اوبه ښې نه ور رسېږي، یا...

هاشم له همدې خبرې سره څو شیبې غلی شو، بیا یې لاسونه ښکته پورته کول، له خولې یې لاړې باد شوې... ویل یې:

ـ ولې په سرونو به یې مېخونه نه ټک وهل؟ په سر اې،... دلته به یې درنې کېښودل، په څټک به یې ټک وهل. هر څومره عمر به دې څې وو، هغومره انچه مېخ یې درڅې راخیست.

هاشم پخوانی کیسه کوله، پوی نه شوم چې څوک یې یادول. خو د دې کیسې سره یې څهره داسې مړاوې وه، لکه په لاره کې له ونې پرېوتی ګل، سړی پرې پوهېده چې څومره بد اغېز یې پرې کړی. بیا یې ووې: په ما ام چا مېخونه ټک وهلي، هسې ښکاري نه. داسې مرض ده لکه سړی څې درته وایي د سمندر له تله تېرې راوباسه، که ډوبوي دې ام...

عیدو ډېرې پوښتنې ترې کولې، چې سترې یې که، ورته ویې ویل: ته صبر وکه، ته له ما بدتر لېونی یې...

ما وې، له هاشمه، د مینې راز وباسم، خو هیڅ یې ونه ویل، بیا مې دا ټپه وکړه:

عاشقي مه کوئ عالمه

یو کال مې وکړه لېونی وګرځېدمه

ـ هاشمه، ها بخت امیر دې پېژانده، هغه دا ټپه کړې وه.

ـ پېزانده مې ښه قوي سړی و.

ـ تا يې نورې ټېپې اورېدلي؟

ـ بخت امير څوک ده...؟

غرمه شوه، همله مې عيدو سره مړی وخوړه، هاشم مستو موړ کړی و، څه يې و نه خوړل. لږ وروسته يو بل کس هم را ننوت، د ټولو بحث په پيسو شو، چا به ويل د پيسې وخت شو، چا به ويل، پيسې ډېرې خوړې دي... هاشم جېب ته لاس کړ، بياتي (قينچي) يې را ويسته. له عيدو يې کتابچه وغوښته، يوه سپينه پاڼه يې د لوټ په اندازه پرې کړه، بيا يې په قلم پرې وليکل: (زر روفی اوغانستان) کاغذ يې عيدو ته ونيو: دغه لوټ ده زياتي يې نو څه کيې؟

ـ رنګ خو ورکه!

ـ رنګونه تا ته له کومه کم، دوغومره رسميات څوک کولای سي. که چليې يې يو وارې دې کور اباد، که نه يې چليې، زر وارې دې خدای په ښادی که!

ما لوټ ترې واخيست: هاشمه! دا خو له تا سره شو، دا نور غريبان به څه کوي؟

ـ خو هر سړی دې جوړي کړي، هر څو روپۍ يې څې لګيدې، په ګوتو دې وليکي، وړه کی ماشوم يې ام جوړوی سي، دغه ده هيڅ تکليف نه لري. دا اوس ما ميلټ کې جوړ نه که؟

عيدو ورته ووې: دا چرته چليي هههه.

هاشم ډډه ووهله: که نه چلېږي... دغسې خوار و زار به خلک وي، دا سختې روپۍ څوک لري...

هاشم لږ مخکې عيدو ته وويل: «ته له ما بدتر لېونی يې.» خو اوس يې نه منله، ويل يې: لېونيان نسته.

عيدو ورته وويل: يعنې ټول هوښياران دي، ولې ها يو به څې لوڅ لغړ گرځېده؟

ـ نسته، لېونيان نسته، سودايان سته، ساده گان سته.

هاشم لږ غلی شو، بيا يې په خپ، خپ خندا کې وويل: دا لېونيان به څه رقم وي، توبه... مړه سپي به خوري؟

کيسې او کيسې،... ماسپښين شو، هاشم ته مې په ډېره خوږه ووې چې کوږي ماما ته ورځو، خو ده ونه منله، پکول يې په سر کړ ووت. زه څو شېبې ناست وم بيا را ووتم، پټيو ته واوښتم، مخامخ لېرې مې په هاشم نظر ولگېد، ناست دی اور يې بل کړی، ور روان شوم، چې ويې ليدم، ورغوي کې يې څه واخيستل، کله چې زه کېناستم، دی پوی شو چې نه ځم، ورغوی يې خلاص کړ، ژبه چرس يې په انگار واچول، لکه سړی چې پرنجېږي داسې يې دواړه لاسونه ونيول، د چرسو په لوگي ور ټيت شو، سخت وټوخېد، څو ځله يې همداسې وکړل، اخر چې ور ټيټ شو، اوږد کش يې وکړ. ټوخي، ټوخي کې يې خبره پوره کړه:

ـ وی خدايه، روغ په رنځور سپور ده... څه مو غوښتل له ما نه، بل چا سره به مو جنگونه کول...

له چرسو سره غږېده... له ځايه جگ شو، روان شو، په پولو يې قدم ځنگېده، لږ وروسته له خړ دېواله پناه شو. زه سړک ته را وختم، چې کوږي ماما ته ورشم. په هغه طرف روان شوم چې عيدو راته ويلي وو، په هغه موړ چې واوښتم، چپ لاس ته همغه غونډۍ ښکاره شوې،

خړې، خړې... نړدې ښکارېده، خو د دښتې مزل و، اوږد شو، چې ور رسېدم؛ مازیگر و. د غونډۍ په ډډه کې کلی و، د جومات سپینه دنگه مناره یې له لېرې ښکارېده. ما فکر وکړ، که د شپې ځای نه و، همدې جومات ته به راشم. د سنځلو ونې وې، ورته ودرېدم، جیب مې ترې ډک کړ. له یوې ماشومې مې د کوړي ماما د کور پوښتنه وکړه، هغې د ډېرو کورونو خوا ته گوته ونیوه.

ـ دې قطار کې اخر کور...

د دې کورونو تر منځ یوه نرۍ کوڅه وه، چې ترې تېر شوم. د اخرني کور مخې ته خړه دروازه را وتې وه، ځو بوجۍ ایښې وې، همدا یې ژرنده وه، ورننوتم. یو سپین ږیری سړی ناست و، ورته ومې ویل: کوړی ماما مې په کار دی.

سر تر پښو یې راته ولیدل: وروره جانانه! زه کوړی ماما یم. خیر و.

ـ هغه د سړک د سر دوکاندار عیدو را لېږلی یم. هاشم لوگري پسې راغلی یم، د هغه کیسې اورم. ته یې راته وښودې وایي: دا یې هم ملگری دی.

کوړی ماما، سپین ږیری و. ږیره یې په اوږو ککړه وه، سترگې یې هم گردجنې وې. سره خولۍ یې په سر وه، شلیدلې گرېوان کې یې تعویذونه ښکارېدل. د غوږونو د منځ ویښته یې هم سپین وو. د دې کوڅې وروستی کورگی د ده و. بیا یوه اوږده دښته وه چې نظر پکې ورکېده، په غرونو ختمېده. مازیگر و، زما نیت و چې کیسې ترې واورم، ځکه د شپې غم مې باید کړی وای، د هاشم کور ته ډېره لاره وه، نیت

مې و چې همدلته جومات کې واړوم، کوړي ماما ته مې چې وویل غوسه شو.

ـ هیچرته نه سې تلی، نه دې پرېدم. دا د سړو دماغو کار ده، لومړی وار ده چې د چا په کار سوی یم.

کوړی ماما راووت، ورپسې روان شوم. مخامخ له یو باغه تېرېدو، ویالې ته کېناست، مخ ته یې څو لپې اوبه واچولې... بیا یې په یو ماشوم د چایو غږ وکړ. لږ وروسته له پتنوس سره راغی. کوړي ماما غوړپ وکړ:

ـ وروره جانانه! هاشم خو مې د ځوانۍ د وخت ملګری ده، جهاد کې هم سره ملګري وو. پر ما ډېر ګران دی. خو بس داسې شو چې اوس مې نه پېژني. ما به څه وپېژني هغه ته خو د موسم درک ام نه کېږي، ټکنه غرمه وي، لمر دې سوزي، دی ځانته اور بل کړي، ځان ورته تودوي. په ساړو بیا نه وي خبر خپل ورکې ګرځي، د دې تېر زمي کیسه درته کوم. په لوېستو واوره پرته وه، نیمه شپه وه، سپي وغپېدل، کلیوال را ووتل، زه ام را ووتم، ګورم یو سړی را روان ده، غږ یې نه کاوه وېې ډار کړو، څې را نږدې سو، ګورم څې هاشم ده.

ـ وه هاشمه، چیشی کیې په دا شپه؟

ـ والله ما ویلې، څې دا جومات ګرم ده

بس رندې سه، وایي جومات کې څملم. لږ وروسته څو کسه ورپسې راغله، خپلوان یې وو، وایي: هاشم له ګرمې کوټې را جګ سه، په لاره، لاره یې ډانګ لګولی و او د پلونو نه مو پیدا که، څې دلته راغلی. نو دغسې ده وروره جانانه.

کوړی ماما، پیاله په لاسونه کې رېږدېده، د ماشومانو لوبې ته یې کتل:

- ای، درنه جوړ یې که، بلا وهلیو!

- څه شی یې جوړ کړل؟

- هغه تېرې وینې، پنځه پلنې وړې تېږې په یو بل له پاسه اېښې، دا ټوپکی (بال، ټامباس) چې د هلک په لاسونو کې ده، دوی په دوو ډلو وېشل کېږي، د یوې ډلې ولا په دې تېږو وار کوي، تېږې ړنگوي. هر څو تېږې یې چې چپه کړې، بېرته به یې په یو بل ږدي، بله ډله په ټوپکي دوی ولي، هر کس چې ولگېد؛ له لوبې ووت او که و نه لگېد، تېږې په یو بل ودرولې، بس هغې ډلې گټلې ده...

تیاره شوه، کوړی ماما پاځېد: څه چې ځو.

وړوکی کورگی و، لرگینه دروازه یې لرله، په دروازې به چې ور ننوتې، ښي لاس ته زینې وې، پاس کوټه، ده د اوړي له پاره جوړه کړې وه، همدې کوټې ته وختو. مخه یې خلاصه وه، کټ پکې پروت و، تیر پسې څوړند څراغ ولگېد. پورې دېوال ته رباب اېښی و، په سر پسې یې څونډۍ ځړېده. کوړي ماما ته مې وویل:

- کور دې وړوکی دی، بچي دې څو دي؟

- بچي خو وو، اوس نسته، یو زه او بل مې ښځه دلته اوسو.

- مسافر دي؟

- وو، د تورو خاورو مسافر دي. بچي مې نه پایدل، سر کې یې دانې پیدا کېدې مړه کېدل. یو خو لس، یوولس کاله را سره و، نور واړه وو، چې مړه سول. بس خو څنگه یې کیې؟

- دلته دې گوزاره څنگه ده؟

- همدا زرنده مې ده، غله مله راته بچت کوي. دوه وزې لرم. دا اوس چې راوختو، لږ مخامخ چې لاړ سې چپ لاس ته مې چرگو ته وړوکی فارم جوړ کړی. دېرش څلوېښت چرگې لرم. هگی یې خرڅوم. کله یو نیم شی وکرم، خرڅ یې کړم. پخوا ښه وه، دیني کتابونه مې خرڅول، اوس مې اوږې له کاره ولوېدې.

- کتابونه دې په کلیو گرځول؟

- وو، پرو سږ کال مې پرېښودل، نور نه کېدل، د شپې به له دردو ویده کېدای نه سوم. اوس مې ام ځې دا مټ وگورې، تور اوښتی، پړی ورکې ناست ده.

- عیدو راته ویل: چې دېرې ښې تیکی کوې. دا رباب دې له کومه کړی؟

- دا خو زموږ دوستني دي. نرینه اولاد یې نه وو، په جلکی مې نوم ورته کېښود. بیا خدای اولاد ورکه. پلار یې ویل، ایتا نوم بختور راپسې لاړه، ځې هر شی وغواړې، درته اخلم یې، ما رباب ترې وغوښت، بیا یې دا راوړ. د دې رباب شپږ، اوه کاله راسره ووتل. سره ترنگاوه مې؛ زده مې که، مخکې مې شپېلی غږوله... اوس دومره زور کله سته، هغه خو په اسویلیو غږېږې ههه.

ما ورته ووې، رباب راواخله، خو ده ویل:

- یو وار به دا مړی ورته وخورو، ځې په گېډه ورته موړ یم.

کوړي ماما دسترخوان وېړ کړو. بشکې (سابه) یې پخې وې. په مړه گېډه مو وخوړې. ده دسترخوان یوړ، زه کړکی ته ودرېدم. داسې

خاموشي وه، چې یوازې د باد غږ اورېدل کېده. کوړی ماما چې راغی، ورته ومې ویل:

ـ دلته په ژمي کې گوزاره سخته نه ده؟

ـ وروره جانانه! د زمي ډېر نه وځو، دشتې دي، دلته چرته گوزاره کېږي، د زمي مو یوه تاوخانه سته، تاوخانه ښه یې، یخ یې مات یي، د دې جای خلک ښاري سوي نه دي، دلته مني کې خلک د لرگیو، خوراک او پوښاک غم کوي. زمي کې ډېرې ورځې دا دښتې د تلو نه یي. نه موټر تلی سي، نه خلک... خو دلته د زمي کوټې زېرزميني لري، زيرزمينې کې اور بلوو، هغه اور هم استعمالوو، مړی او کتغ پې کوو، او کوټه یې هم توده کړې وي...

کوړي ماما رباب را واخیست. په لړزانده لاسونو کې یې اړوه، راړوه. خاموشي شوه، خو دا خاموشي یوې داسې خوږې نغمې ماته کړه چې بیا جگ شوم، کړکۍ ته ودرېدم. پورې سپوږمۍ ولاړه وه. د ونو پاڼو شور کاوه، بادونه لگېدل، تا به ویل چې دېوالونه هم غوږ دي. او د کوړي ماما د رباب نغمې اوري. دا نغمه له ما څو شېبې ورکه وه، وروسته مې پیدا کړه:

وه سپینې کوترې

څوک دې لېوني کړل

څوک دې وويسته له چارې...

دا ډېر پخوانی سروکی دی. ما به ودونو کې اورېده، کوړي ماما ته مې چې ووې، په موسکو سترگو یې سر وخوځاوه. په څراغ پتنگان راټول وو، د رڼا مینان گرد ترې تاوېدل. څو شېبې هر څه موسک وو،.. کوړي

ماما د رباب له تارونو ګوتې لرې کړې: پخوا به زموږ مېلو ته یو کس راته، د کلیوالو سرونه او ږیرې به یې جوړولې، نغدې پیسې ام نه وې، چا به له باغه میوه ورکړه، چا به کتغ ورکړ، چا به یو څه، چا به بل څه... یوه ورځ راغی، رباب یې هم غاړې ته اچولی و. ده خلکو ته ویښته جوړول ما یې رباب را واخیست. ماشومتوب و، شوخي وه، تار مې ورته وشکاوه، بېرته مې غلی کېښود. بله ورځ مې چې ولید، خندل یې، بیا یې دا ټوکه راته وکړه: «یو کوچی ویده کېده، لیمڅي یې په ځان اچولي وو، لیمڅي خو درانه يي، دی نه و پوی سوی، دروند خوب وړی وو، د شپې سخت باران سوی و، خېمه یې ورته ړنګه کړې وه، لوښي موښي یې هم ورته لانده کړي وو، دی څې ګهیځ راجګ وو، لمده ړنګه خېمه، لوښي... یې لیدلي، آسمان ته یې کتلي، تک شین دی. بېخي مالومیده نه څې باران دې سوی یي، ده آسمان ته کتل، خندلي یې دي، بیا یې ورته ویلي: «شینکیه! کار دې ام کړی، ځان دې ام نا ګومانه اچولی.» زه پوی سوم، څې زه یې په غوږ ووهلم، ځکه ما یې د رباب تار شکولی و، بیا مې ورسره جوړه سوه، دی پوهېده څې رباب سره مې شوق ده، څې خوک به نه وو بیا یې راته غږاوه. کله، کله به یې ماته را که، داسې لږ، لږ مې زده که، د خپلې خوښې سندره مې نه سوی سیخولای، خو یوه نیمه مې ورکې سیخه وه. اول، مې دا سندره رباب کې زده کړه:

توره بارام خانه! نوابه

ځنې دې غوړې که، چې باد یې رپوینه

بس له هغې ورځې مې رباب سره انډيوالي ده تر ننه.

- ماما! دا بهرام خان څوک و؟

- والله زه خو داسې خبر سوی يم، څې دا د خپل وخت خان و، پلار يې سادات خان نومېده. د يوې منطيقې مشر و، باجونه به يې اخيستل. همدې تور بارام خان د پرنګيانو يو جنرال مړ که او پرنګيانو ته يې جنګ کې ماتې ورکړه، له دې پېښې وروسته مشهور شو، يو رقم آسونه وو چرګي آس يې باله، په هغه به سور و، اوږدې څنې يې وې، دا ټپه يې په مېړانه او غيرت څې وسوه...

- ماما ټيکی دې زده دي؟

ماما ځواب رانه کړ، رباب يې واخيست، ويې ترنګاوه:

ښه ده چې باغ د ګلو ړنګ شو
مدام يې غم د رژېدو راسره و نه

ماما دا ټيکی څلور ځله وويله... غږ يې ډېر لوړ شو، هر ځل يې جلا، جلا طرز کې ويله. پنځم ځل يې چې ويله، ژړا يې ستوني کې غوټه شوه، غږ يې ونه وت. بس يوه دردمنه نغمه يې وغږوله، پر ما يې داسې اثر وکړ لکه د تېر ارمان چې پکې شوی وي. ده د رباب له تارو ګوتې نه خوځولې، چې پاکې يې کړې، سترګې يې ډکې وې، رپ يې ورکړ، څو اوښکې يې لکه مری لمنې ته ورغړېدې... لږ وروسته يې چې ژړا ودرېده، دا ټيکی يې يوې بلې پسې وکړې:

ياره چې ته پرې خوشالېږې
خدايګو که بيا ځنځير له غاړې وباسمه

رنځوره يم، تا به رنځور کړم

د يارانې اثر په سترګو کې لرمه

زړه مې په يوې ولې ولاړ دی

لکه ګورګوره په ګړنګ ولاړه وينه

ماما ځو شېبې بيا نغمه ونيوه، اخر يې په چيغه دا ټپه وکړه:

په پيغمبر مې سلام وايه

په ټول امت کې يې يوازې پاتې يمه

رباب يې کېښود، ما ته يې وکتل:

- ته مې لکه څې خپه کړې، څه وکو؟

- ماما! هغه اوله ټيکی دې څلور ځله وويله، دا کوم د ګلو باغ ړنګ شوی و؟

- دا ټيکی خو مې د هر اولاد له مرګ سره سم ويلې ده. دا اخري زوی مې څې له نورو ډېر زوندی و، بيا مړ سو. بس دې ټيکی به بيا ډېر ځورولم، دلاسه يې ام راکوله خو... هغه يوولس کلونو ته رسېدلی و، خو سر يې پړسېدلی و، پوېدم څې پاتې کېږي نه. دی به څې کله خوشال و، خندل به يې، ما به څې ورته وکتل، دې خندا به يې زړه را زړوه، پټ، پټ به په زړا وم. دا ټيکی مې هسې ايتا مخې ته وکړه، ګني له کده ( کور ودانې) بغېر چا نه وه رانه اورېدلې، څې کله رباب را واخلم، اول يا اخير دا ټيکی ورکې اچوم، کده او زه دواړه په سرو سترګو ژاړو.

- ورونه او خوېندې دې چرته دي؟

- ما ورونه نه لرل، دوه خوېندې مې وې، دواړه مړې شوي.

- دا ټيکی دې چرته زده کړې؟

- بس دا ودونو کې، مړې زوندي کې، له پخوانيو کېسټو... wروره جانانه! ټيکی خو دغسې شی ده، پښتانه يې په غم و خپگان دواړو کې وايي.

- ماما! پرون شپه هاشم هم ټيکی وکړې، د مومن خان او شيرينی کيسه يې ويله!

- وو، وو. رښتيا ته خو د هاشم مجلس پسې راغلی يې، ما خپل وير در اچولی ههه. هغه وخت څې نوې ږېره و برېت مې راغلي وو، هاشم مې ټينگ انډيوال و، پلار مې غوسه ناک سړی و، هر چا سره يې نه پرېښودو، خو هاشم ډېر نېک الک و، درس او خط په هر چا گران کړی و، څې ورسره گرځېدم به، کور کې يې غږ نه را ته کاوه. کوروونه مو هم سره نږدې وو. هاشم کې له وړکتوبه خدای عجيب زړه اېښی و، ډار يې نه لاره، يوه ورځ يې ويل راځه گرځو. روان سوو، په څو غونډېو واوښتو، روان، روان. داسې ځای ته ورسېدو چې نه کوروونه ښکارېدل، نه خلک، کنگه کونگيا وه. هلته يوه ډډه کې ونه ولاړه وه، خدای خبر ډار سوی وم، که ونې خوند راکړی و، له خولې مې ووتل: «جار! څه تکه شنه ونه ده.» هاشم هملته ښه ډېر راپسې وخندل، بيا څې کلي ته راغلو، په عذابولم يې، هر چا ته به يې ويل: څې دی وډار سو، له ډاره يې ونې ته جار وويلې. ډېر ښه ساعت مو سره تېر و. روزه به څې پنځلسو ته ورسېده، د ټول کلي هلکان به مو خبر کړل، ټول به له ماښام لمانځه نه وروسته جومات کې راټول سوو، کلي په کلي به گرځېدو، پنځلسی به مو ټولوه، هغه سندره مې اوس هم ياده ده:

**پنځلسیه، پنځلسیه! تا به څوک ټولوي**

**تا نه ښکلي ورکي نسته**

**جـونه خـوب زنګوي**

د هر کور دروازه به مو وهله، چا به نغدې را کړې، چا به یې بدله کې هګۍ را کولې، چا یو شی، چا بل...

اخترونه، خو اخترونه وو. په شنه ګهیځ به ووتو، کځوړې به را سره وې، کور په کور ګرځېدو، خونی (وچه میوه) به مو ټولاوه. کلي کې به مو ټال اچولی و، دغسې ورځو کې به چا ور کتل هم نه، بس څې اختر به سه، ټالکې پسې به مړه وو، یوه ټالکه به څې را ورسېده، لکه ټوله دونیا څې زموږ یې. هاشم به موږ سره هره مستي کوله، خو درس کې ډېر لایقه وو. له لېرې ځایونو به خلک راتلل، د هاشم پوښتنه به یې کوله، خطونه به یې پرې لیکل، یا به یې په ویلې. اوس خو ماشومان ام خط لیکي، پخوا خو داسې عام نه و، یو نیم سړی به پیدا سه، مرزا به یې باله. اغه پخواني مرزایي خطونه ډېر سخت وو، هاشم به څې ورته کېناست، دیسې به یې ویلې لکه طوطي. سبق موږ ټولو یو جای، له یو ملا ویلی و، خو د ده دماغ ډېر ورکې خلاص وو، څې کومه ورځ به ملا نه وو، ده به درس ورکاوه.

ډېر ارام زوند و، خوشاله زوند و، نیستي وه، خو په خدای خوند یې کاوه، ډېر د څه شي غم نه و راغلی. خو بس وطن ته ښېرا سوې وه، روسان راغلل. ټول وطن یې په زړا که، موږ ام ټول یو جایي ووتو، هجرت مو وکه، کچه ګړۍ کې مو واړول. هاشم کچه ګړۍ کې یو څه

وخت مزدوري وکړه، کله به یې پنډیتوب کاوه، کله دیاړي، قولنګ او بېلچه...

هلته یې یو جای ته کارخانې ویلې، هلته به ډېر ته. خپه، خپه به و. چرس یې ام هملته شروع کړه. مزدوری نه به سیده انډیوالانو ته ورغی، کور ته نه راته. یو څه موده مو سره ورک کړه، خو بیا مو لوګر کې سره پیدا کړه، دی هم جهاد ته راوښتی و. هاشم په وطن ډېر خپه و، په غرونو کې به څې سره کېناستو، د روسانو له ظلمو به څې چا خبره وکړه، دې جای کې کور بمبار ده، پلانکي جای کې خلک شهیدان دي، پلانکي...

بس دې خبرو سخت ځوراوه. مخکیني آرام زوند څې خپه و، دی خو ګرځنده سړی و. د منظرو ډېر شوقي وو، بس هغه وختونه به یې یادېدل. ډېر به یې ویل: « وطن یې را نه وسېزه، د پلار نیکه هډوکي یې را نه ونیول، دا به څه شی سي، دا به څنګه کوو.» خوب به یې نه و، کری شپه به ناست و، اخر کې غونډ ملګري پرې پوی سول، څې ډېر زړه خوري. بیا به مو څې د مرګ خبر تر غوږ سو، دی به مو نه خبراوه، یوه بله پېښه ام وسوه. د پښتیا ځاځیو نه لوګر ته راوښتو، د ورځې خو نه سوو تلی. نو د شپې را روان سوو، څلوېښت، پنځوس ملګري وو. څېک، څېک واوره ورېده. دوه درې لویستې خو سوې ام وه. یو ځای هاشم، ودرېد، څې ور وګرځېدو ګورو څې د یوه مړي په سینه کې یې پښه خښه ده. څې رڼا مو ور واچوله، لاندې د سپین ږیري سړي جسد پروت ده، خدا کله به مړ و. هاشم چې پوی شو په مړي کې مې پښه کېښوده، رنګ یې زېړ سو. زړه یې خراب و، اوبه مو ورکړې، یو ځای مو

مزل په منډه کړ، ما پسې خښ هاشم روان و. له یو پانه تېرېدو، څو کسان پرې تېر سول، ډېر احتیاط یې غوښت. له ما هاشم پرې ور مخته شو، پښه یې وښوېده، په خدای داسې غړ یې و، لکه غر څې ښوېدلی یې. درز لاندې ولگېد. موږ څو ملگري په څه خواري ور کوز سوو. څې ومو لید، هاشم وازه خوله پروت ده. غږ نه سي کولای. څو لټونه یې کړي وو، کمیس یې سوری، سوری و. له پښو یې وینې روانې وې، مخ یې شیگارې و. په دوو نفرو مو راجگ که، بې هوشه و.

دوو، به تر یوه جایه یوړ، بیا به نورو دوو ونیو. په مزله، مزله کې، سهار سه. هلته یوې سمڅې ته ننوتو. هاشم مو څې ولید، مغزی یې لگیدلی و، پړسوب یې کړی و، توره وینه ورکې گنډه وه. له پښو یې په لاره وینې تللې وې.

تر نیمې ورځې بې خوده و. بیا وغړېد، جگ سو، خو څې څو قدمه لاړ، بیا به سر پرې وگرځېد، کې به ناست. څو ورځې دغسې و، ټول ملگري ورسره په تکلیف وو، بیا ښه سو، سر یې پړسوب کم که. خو د دې لوېدو وروسته د سر خوږ ور ولوېدل. ټینگ به یې لاسونه کې نېولی و. یا به یې په رخت تړلی و.

خپه، خپه مخکې هم گرځېده، خو دې پېښې سوچ ور سره ملگری که. ناست به هم سوچ کې و، روان به هم سوچ کې و، مړی به یې هم سوچ کې خوړله. د هیچا یې هم نه منله. موږ ملگري به ټول را غونډ سوو، هاشم به نه و، څې و به مو لټاوه، چرته لېرې به گوښې ناست و.

داسې، لېرې، لېرې به گرځېده. گنې تکړه، ښه تکړه و. وار یې ډېر ښه وار کاوه. موږ جهاد کې یو رقم بوتلان له پټرولو ډکول، د بوتل له سره

به مو وړه پلته وباسله. پلتې ته به مو اور ورکه، په ټانګ به مو وار که. بوتل به څې پرې ولګېد، ټانګ به سره لمبه سو. دا وار اسانه نه و، خپل چل يې غوښت. ډېر مجاهدين به ورسره بلد نه وو، خپل ځان به يې وسېزه. د بوتل ويشتلو کې د هاشم نوم و، ټانګ بچ نه ترې خوړ. وچ به يې وويشت. ټول به ورته حيران وو.

زور ته يې هم ملګري تسليم وو، موږ به کله، کله د لاس زور واهه، د هاشم لاس چا ځمکې ته نه شو وړلی، کله، کله به مو تېږه شړله، هاشم به له ټولو مخکې ځای وويشت. هاشم هغه وخت په حال و، خو داسې يو نيم لېونتوب يې کاوه. يوه ورځ مو يو ټانګ ايسار کړ، چې ورکوز شوو، په څنګ پسې يې يو صندوق و، صندوق وړوکی خو ډېر محکم قلف لرلو، موږ ټول د صندوق شاوخوا ولاړ وو، سوچ مو کاوه څې کلف خلاص کړو څې دن سه. کلف مات سه، شاته مو وکتل، هاشم په غونډۍ کې ګونډه وهلې، له هغه ځايه يې کلف وويشت. زموږ او د قلف منځ کې به څو لويشتې فاصله وه. ډېر ملګري ولاړ وو، بيا ځينې ورته غوسه هم وو.

بله ورځ يې غره کې زوندی لړم ونيو، د چاښتې جيب ته يې واچوه. چا ورته وويلې: هاشمه په دغه چيشی کيې؟ ويل يې: «دغه سره روسان څې کوم يو زوندی ونيسم، په دې ګرېوان کې يې ور اچوم، څې بيا را غلط نه سي، د دې لړمانو وطن ته.» د ده واده ته زړه نه و، ويل يې دا د غرونو مزلونه دې وکو، روسان دې لاړ سي، څې بېرته خپل وطن ته راسو، بيا واده کوم، اوس يې څې وکم، چتې به را نه پاتې وي...

بیا ما او دی بېل سوو، زه کچه گړی ته راغلم، مزدوری ته، خو داسې خبر سوم څې غره کې د لېونتوب یوه لړه پرې راغلې وه، خو بېرته په خپله ښه سوی و. کله څې روسان لاړل... د ده د مېړانې او غیرت کیسې ډېرې کېدې. د جهاد زړورتیا یې یادېده. د ده حالت ام بېخي ښه و، لانجې یې خلاصولې، داسې بدی څې لسو، لسو مړو ته یې سره رسولي وو، زړې بدی وې، ده خلاصې کړې، قوم یې هم خبره غوړ کې نېوه. خو بس یو دم، هاشم بې سوره سو. چا ویل چا چیشی پې وخوړل، چا ویل خامو چرسو خراب کړ، چا ویل غره کې د لوېدو وجه ده... کرار، کرار خرابېده، هغه ده اوس یې خپله وینې.

شپه له نیمې اوښتې وه. کوړي ماما ووې:

- سهار څنگه کوو؟

- زه خو چې پرون راتلم، هلته د عیدو دوکاندار سره مې وعده وکړه، سبا به دواړه ورشو.

- والله عیدو ښه هلک دی. زه ام دا ډېر وخت چرته نه یم تللی، نیت خو مې دی، صبر چې ابی څه وایي، لږ ، لږ ترې وېرېږم ههه.

کوړی ماما ووت. زه د هاشم د تېر او اوس ژوند په فکر کې شوم. زړه مې ورته خوړ. په همدې سوچوونو کې ویده شوی وم. سهار مې وختي سترگې خلاصې شوې. چرگانو بانگونه وهل. له حجرې ووتم. مخامخ باغ ته ورغلم. د رښو اوبو ویاله وه. څو هیلی ورکې روانې وې. په ونو کې د مرغانو چن چوڼ و. کلی ارام و. لږ وروسته د لمر کمزورې وړانگې ولگېدې. وطن زېړ چک مالومېده. زه یوې ونې ته تکیه وم. چې کوړی ماما راووت. هملته ونو کې کېناستو، چای یې راوړ، د وزې د

شېدو چای و، تازه پېروی هم ورسره و. چای مو چې وڅکه. کوږي ماما راته وویل: زه هم درسره ځم، ابۍ دې څه ونه ویل. خو غواړي چې یو وار دې ووینې.

ورغلم، ابۍ له لکړې سره انګړ کې ولاړه وه. غاړه یې راکړه، په تندي یې ښکل کړم: زویه! زه درتلم، خو دا زینې باندې نشم ختلی. ماما دې ښه ساعت درسره تېر شوی و، بس موږ داسې تنا پاتې یو، کله، کله راځه.

بیا یې دسمال کې غوټه څو ایشیدلې هګۍ راکړې. ترې را ووتو. له کلي وتلو، کوږي ماما راته ووې:

ـ ابۍ د کلي په ښځو ډېره ګرانه ده. هر واده او مړي زوندي ته یې له لاس نیولې بیایي، اوس ګوره چې پرې خبر شي، کور کې ګوښې ده، د کلي نجونې ورپسې راځي بیایي یې. دې له ما سره ډېرې سختۍ تېرې کړې. اوس خو شکر دی، دغومره سر پناه سته، دې ما سره خېمه کې هم ژوند کړی. تر ننه مې وار نه دی پرې کړی. زه به ښه سړی نه یم، خو دې موقعه نه ده راکړې. بس که وچه وي، که لمده وي، را رسېږي. تندی مو یو بل ته کوت نه کوي، په خندا ژوند کوو. د دې خوارې هم یو ورور ژوندی ده، هغه غزني کې ده.

په لاره کې لوېې، لوېې ګارې (کندې) راتلې، ماما ته مې ووې:

ـ دې ګارو ته مې پرون هم پام شو. ډېرې ژورې دي. دا یې د څه له پاره جوړې دي؟

ـ پخوا خو اوبه زوره نه وه. د دې ګارو کوز سر کې به د رنو اوبو چینه وه. څینو ګارو به زینې لرلې، ورکوز به سوې، لوښی به دې راډک که.

په ځينو بيا لرګي لګيدلي وو. په پړي به اوبه ترې راختې. اوس خو يې اوبه وچه ده، دغسې پرتې دي.

يو ځای د کوچيانو خېمې راغلې. ترې تېر شوو، مخته مو په غونډېيو رمه وليده، همدلته کېناستو چې ستړيا وباسو. دوه کوچيانو په يو بل د تېږو وارونه کول، يو لږ پرې لوی و، تور کالي يې اغوستي وو، کوړي ماما ورته وويل:

ـ مه کوه، ته خو لوی يې، وبه يې ولې.

کوچي مخ راواړوه، ويې خندل:

ـ خپل کار به کوي.

کوړي ماما ته مې ويل: هاشم به درته خوشحال سي.

ـ نه، چيرې. اغه ډېر بد په ځان اخته ده. زه وريادېږم ځې د ځوانۍ ملګری مې ده، بس څه وايي نه...

کوړی ماما غږېده، چې د ژړا غږ راغی. ګورو چې تور کالي کوچي هغه بل ويشتی. هغه ژړل، تېږه يې لاس کې ورپسې راوړه. تور کالی ولاړ و، وار يې پرې وکړ. ښنګري ته يې وويشت، تور کالی کېناست، ځيګروي يې کول. هغه بل ترې وتښتېد. کوړي ماما ورته موسک، موسک کېده: څرنګه، تا خو ويلې خپل کار به کيي، دا خو يې لکه ځې ايتا کار وکه!

ډېر مزل مو وکړ. اخر سرک وښکارېد. ماما ته مې ووې: ته تکړه يې، دومره د پښو مزل دې وکړ، داسې چابک روان يې نام خدا.

ـ وروه جانانه! زه خو کاريګر سړی يم. ټوله ورځ د غلې بوجۍ ټيټوم جيګوم. لاس پښه مې حرکت کې وي. چې کله اوزګار سم، کور کې ګرځم چتې مې يو کار ته لاس ټيټېږي.

عیدو دوکان کې و. د کوړي ماما په لېدو ډېر خوشاله شو، ویل یې د شپې به ښه بنډار کوو، خو هاشم به رضا کوو ویل یې پرون درته اندېښمن شوی وم. احوال دې را نه غی.

ور سره کېناستو. غرمه وه. همغه جوش هګۍ چې ابۍ راکړې وې؛ ومو خوړې. بیا مو د هاشم پوښتنه وکړه، عیدو ویل: نن نه دی راغلی. زه او ماما راووتو، د هاشم کور ته ورغلو، یو ماشوم راووت ویل یې: هاشم خیرات ته تللی. د خیرات د ځای درک مو مالوم کړ، ور روان شوو. لږ مزل مو چې وکړ، ماما راته وویل:

ـ دا مخامخ دېوال وینې؟

ـ هو

ـ دا د هاشم کلا وه. له هجرته مخکې ځې یې له ورونو سره بېلتون وسو، جوړه یې کړه، دا کلا ده په ګوښي ځان جوړه کړې وه. بس بمباریو سره خرابه کړه، اوس یې دا یو دېوال روغ پاتې دی. هغه وخت خو خټه په غوایانو پخېده. زورورو غوایانو پسې به یې یوه وتړله، په خټه کې به یې ګرځاوه. هاشم شپه و ورځ ورته یوه کړې وه. اول به یې خاوره وکېندله، بیا به یې خټه جوړه کړه. په نیمه شپه به ووت. د سهار اذانونه به ځې کېدل له کولبې سره به را رسېدلی و، خټه به یې پخه کړه. بیا به یې ځپک، ځپک خېږوله، دېوال یې پرې راتاواوه. دا کلا یې بمباریو او بارانونو داسې کړه، چې هغه وخت دې لیدلې وای؛ ورته حیران به وې. والله خلک به یې لیدو ته راتلل، چا نه منله ځې ده دې په ګوښي ځان دومره لویه کلا جوړه کړې وي. څکه ځې نن ورځ دومره تکلیف لري، هغه وخت خو یو هم نه و، ټول د لاس کار وو.

پخواني خلک کلک وو، نور ام داسې ځینې جایونو کې خلکو په یواځې ځان کلاوې جوړې دي. ځکه مزدور ام مزد غوښت، وس نه و چا سره، نیستي وې. خو د هاشم غوندې لویه کلا دې نژدې علاقو کې چا نه وه جوړه. خو بس قسمت یې نه و ورکې سوی، مهاجرت راغی...
لږ مخکې مو کلي کې پوښتنه وکړه، وروسته مو هغه کور پیدا کړ، لمر ته یې خېمه وهلې وه، ډېر خلک ناست وو. هاشم مو ولید، د دیگونو تر څنګ ناست دی، ورغلو. داسې چلند یې وکړ، لکه لومړی ځل مو چې ویني. غلی و... بیا یې کوړي ماما ته وویل: خپه نه سې، زوبل یم والله.
ما ته یې مخ را واړوه: داسې را روان وئ ما ویلې که کوم ټوپکي راغی، والله.
- کوړی ماما خو دې ډېر پخوانی ملګری دی، کنه؟
هاشم ځواب را نه کړ، جیب ته یې لاس کړ، کتابچه یې را وویسته، یوه پاڼه یې ترې وشوکوله، چرس یې ورکې واچول، تاو یې کړل، اور یې ورکړ...
بیا یې خندل:
- کوړی ماما خو ډېر بلا سړی ده، دومره ګرځېدو، زه و خدای. مځکه مو سترې کړې وه.. یو وارې یې له ډاره ونې ته جار وایه.
کوړي ماما ورته ووې: وګوره ایتا له پاره راغلم، ته خو د چا پوښتنه نه کیې.
- والله بې شکه، ښه سړی یې، مسلمان سړی یې.
د هاشم حال بیا واوښت، څوک یې یاد کړل، کنځاوې یې وکړې، ویې خندل، بیا له ځان سره لګیا شو.

کله یې چې چرس وڅکول، ودرېد: ما سره ځئ؟

ـ نن به ته مورِ سره ځې.

ـ زه نه ځمه، زوبل یم. ملا مې له دانو ډکه ده.

هاشم پسې روان شوو. دی هم نه غړېده، مورِ هم. کله چې یې کور را ورسېد؛ مخ یې را واړوه:

ـ زه را وځمه، تاسې که حجره کې کېنئ، که دې سیوري ته کېنئ.

مورِ ورته کېناستو، وخت یې ډېر ووت، درک یې ونه لګېد. مورِ وختو، مزله ستړي کړي وو، هلته د یوې ونې ډډې ته وغځېدو سترګه مو لاړه. مازیګر و، چې را پاڅېدو. د هاشم د کور مخې ته مو له هلکانو پوښتنه وکړه. هغوی وویل هاشم باغ ته تللی. د باغ لاره مو ونیوه...

چې ور ورسېدو؛ هاشم ناست دی. څو هلکان ترې تاو دي. مورِ یې چې ولیدو سترګې یې غتې کړې:

ـ تاسې څه لېونیان له ځانه جوړ کړي اوس چرته ځئ؟

کوړي ماما ورته غوسه کې وویل: عیدو دوکاندار سره پاتې کېږو، راسره ځې به.

هاشم ودرېد، غلی روان شو، ما او کوړی ماما ورپسې شوو، ګورو چې د عیدو د دوکان لاره یې ونیوه. ما او ماما یو بل ته وکتل، ومو خندل، چې سړی رضا شو. ماښام و، عیدو د غرفې دروازه وتړله. ور سره روان شوو.

لار کې مې هاشم ته ووې: د وړه کتوب ملګري خو ډېر خواږه وي، کوړی ماما در باندې ګران دی!

ـ ههههه، را باندې ګران ده، ډېر بلا سړی ده.

د عيدو لويه حجره وه، ښکلې هوا پکې لګېده. مړی يې راوړه. وطنی چرګ يې يخني کړی و. هاشم له موړ تولو ډېره وخوړه، وروستی مړی يې چې خولې ته نږدې کړه، عيدو ته يې مخ ور واړاوه:

ـ والله بې شکه دې...

چای يې راوړ. هاشم خوشحال و، خندل يې. کوړي ماما له همدې خندا استفاده وکړه، ورته ويې ويل: هاشمه، هغه زما د سپي خاطره دې ياد ده؟

ـ خدا ...

کوړي ماما ته مې ووې: ته ووايه!

ـ وروره جانانه! ديسې چل و، وړکتوب و، شيطانان وو. هرې شيطانی ته مو لاس اچوه، د سپيو ساتلو ام ډېر خوند راکاوه، کوترې مې ډېرې خوښېدې، د کلا سرونه مې ورته سوري، سوري کړي وو، ځالې مې ورته جوړې وې. يوه شپه ويده وو، دروازې ته سپی کوړنجېده، ځې ور ووتو، پلار مې ام را سره و، ګورم ځې تک سپين ببر سپی ده، يما خو مينه پې راغله، پلار ته مې ووې: ابا اوس شپه ده، را به يې ولم. لړه مړی به ورکړو، غريب وږی ده. وايي: ځه رايې وله، خو سبا به يې وختي باسې.

دغه شپه خو تېره سوه په سبا مې سترګې پې مړې کړې، پلار مې غوسه و، ځې لرې يې که. مور ته مې زاری وکړې هغې مې پلار رضا که، سپی يې راته پرېښود. سپي يو څه وخت راسره تېر که، بله ورځ يې کلي کې د يوې زړې ښځې چرګه وخوړه. ښځه راغله، ښېراوې يې کولې، بده ورځ يې کوله، پلار مې غوسه سو، وايي: خړ سترګيه، زر سپی ورک که.

وروره جانانه! زما خو په سپي زړه نه کېده، څې بهر سپي سره را ووتم، مال اوس چيشي وکم، بس کنډوالې کې مې وتاړه، له کوره مې قينچې يوړه، ويښته مې پې کم کړل، نکريزې مې ورته راوړې، سره، سره تپې مې ورکې وکړل، نيمايي پښې مې ام پرې سرې کړې. څې کور ته مې را وست، مور ته مې زارۍ شروع کړې، څې وګوره بل سپی مې را وست، دا اصلي ده، پلار ته ووايه، څې راته پرې يې ږدي.

پلار مې راغی، شکمن، شکمن يې ورته کتل، څه يې ونه ويلې، لاړ کوټې ته ننوت. وروره جانانه شپه سوه، ويده سوم، د شپې باران سوی و، شړکنده باران. سپی يې لوند کړی، خو لنډه دا څې نکريزې يې ترې وړي. ګهيخ مې څې سترګې لوڅولې؛ پلار مې له کوټک سره سر ته ولاړ و، نور مې دوه خپلې کړې، دوه پردۍ... شپه مې ام بل جای وه.

موږ ټولو د کوړي ماما خاطرې ته سخت وخندل، ما ورته وويل:

ـ اوس چې د هاشم د مينې کيسه وکړې، خوند به وکړي.

ـ ههه وروره جانانه هاشم خو ډېر عجيب مين و. موږ به څې مينان سوو، د شوخۍ وخت و، زړه به مو پړسېدلی و، څې اوس مو زر چا ته ويلي وای څې مين يم. خو هاشم خپل حال نه ويلې. دا لږ، لږ په ډېره سختۍ خبر سوو. هاشم خو په مينه او دې کيسو ډېر کار نه لرلو، سبقونه يې ويلې، کارونه او مزدورۍ وې. خو بس دا مينه د خپل واک و اختيار شی نه ده. هاشم بدبخته داسې ځای مين سوی و، څې رسېده نه ورته کېدل. خو يا د کلي او ولس خبره، يا ضدونه، تربورولي... دا ټولې کيسې وې. يا بل داسې خنډ. څې اغه نه په زور کېده، نه په سلا. خو هاشم و نو، ښه پوهيده څې اغې ته نه رسېږم، بل جای يې واده ونه

که، ګني د ده ټولو همزولو له هجرته مخکې ودونه کړي وو، خېلخانې یې وې. د دوی کور سره هر چا دوستي ته زړه ښه کاوه، څو څو واره خلکو خپله ورته وویلې څې موږ خپله خور لور در کوو، خو هاشم به نه رضا کېده، بس هغه ټپه ده کنه:

پخوا به داسې یارانې وې
یار به د یار سترګو ته عمر تېراونه...

کوړي ماما دې ټپې پسې دا ټپې هم وکړې:

خدایه زما بدل ترې واخلې
زه په دنیا کې په یار ډېر کمزوری ومه

ورکه مېچن سه ورک یې نوم سه
څې ورته کېنم نری ملا مې ماتوینه

د ژرندې پل څې څومره تېز دی
دومره د یار رانه پرهېز دی نه راځینه

موږ ډېر ورته وویل، خو د هاشم له خولې ټپه ونه وته. نورې هم ډېرې کیسې وشوې... خنداوې وشوې. شپه ناوخته وه، عیدو هم سبا وختي دوکان ته تلو. ځایونه هوار شول چې شپه جوړه کړو. ګروپ مړ شو، زه هم وغځېدم چې هاشم ته مې کتل. ویښ و، ځای کې نېغ ناست و، خو د پوښتنې ځواب یې نه را کاوه. ما ورته لیدل، دی به خدایزده کومې ورکې و ودانې ته په سوچ کې و، زه ده ته سوچ کې لاړم . په تېرو ورځو کې مې د ده په اړه اورېدلې کیسې را یادې شوې. د کوړي ماما کیسه: «سبقونو کې ډېر تکړه و.» خو اوس یې د کتابچې سپینو پاڼو

کې د لیکلو په ځای بنگ دود کول. قلم یې اوس نه غړېږي، بمبۍ ترې وباسي، تور لوگی ورکې تېروي. هغه جامې چې گرد به یې نه پرې پرېښوده، اوس تپي (رتې) او خالونه پرې پراته دي، داسې خیرنې دي چې خپل رنگ یې ورک کړی. لانجې به یې خلاصولې، خبرې یې زده وې،.. خو اوس یې په لسو کلمو کې له نیمایي ډېرې کنځاوې وي. دوه درې کلیمې په څه سختۍ ښې ووایي. اه! هر څه ترې هېر دي، آن د ماشومتوب د شوخیو او خوږې دنیا ملگري لیدو هم خوشال نه کړ.

کلا یې په گوښي ځان جوړه وه، خړو ټانگونو یې مخه نه شوه نیولای، خو اوس یې داسې له متو او زړه زور وتی، چې جگېږي؛ سکمی یې خیژي. په هر چا زړه سواند دی، خو بس په ځان یې زړه نه سوزي. نور د ده حال ته زړه خوري، خو دی په ځان او دنیا خبر نه دی. دی به خپل زړه ته کومې کیسې کوي، دا اوس کوم فکر داسې وړی، چې غږ هم نه اوري، دنیا به څنگه تعریفوي، دا د مکر، فریب او چل دنیا او دی ساده باده! زه خو به لاړ شم، په ده به نور څه، څه تېرېږي. نورې به څومره خولې ورپسې جینگېږي. د څومره خلکو د خندا به وي. څه، څه کاڼې به پرې کېږي. کوم، کوم رشخند به پرې وهل کېږي. فکرونه ډېر وو، سترگه مې تللې وه... را ویښ شوم، گورم سهار دی.

کوړی ماما له ما وختي ویښ و. هاشم ته مې ور ولیدل، پکول یې همغسې په سر و، کورتۍ یې هم نه وه ایستې، ویده و. زما او کوړي ماما په خبرو را ویښ شو. عیدو چای راوړ، خو هاشم ووې، چې زه دا وخت چای نه څکم، یو وار کور ته ځم. لاړ.

چاي مو وڅکه، را ووتو. عیدو څو دانې منې هم بایګ کې راته واچولې. کوږی ماما له عیدو سره دوکان ته لاړ، زه لاړم چې هاشم ووینم، ور رسېدلی نه وم؛ په مخه راغی، غوسه و. ورته ومې ویل: «زه دې ورور وینم، ته دوکان ته ورځه. ورور يې د کور مخته پټیو کې لګیا و. بېل یې واهه. ور سره کې نه ناستم، مخه ښه مې ور سره وکړه، دوکان ته را وختم. هاشم خندل: یو ځای مای راته پیدا که، هلته دلته مې نور خلق وچ ده.

ـ راځه اوس راسره لاړ شه!

ـ نه هسې ګپ مې وویست، هسې مرو، پرېده څې په کراره کلي کې سر کېږدو.

هاشم راته ووې: ته خو داسې ګډو وډو پسې راغلی وې، دا شیان بیا څنګه نوشته کیې؟

ـ دې موبایل کې مې غږونه ثبت کړي، کور ته چې لاړم، لیکم یې.

ـ عجیب سړی یې والله، بس زړه پاچا ده، هر شی څې زړګکي در ته وویلې، لیکه یې.

ما ورته وویل: یوه نښه دې اخلم.

هاشم ته مې کتابچه ورکړه، نوم یې راته پرې ولیکه. څو توري یې کم وو، ویل یې لکه څې غلط مې ولیکه، خو ما ورته وویل: «پروا نه کوي، دا به له ځان سره یادښت وساتم.»

کوږی ماما خوشحال و، ویل یې: کله، کله مې پوښتنه کوه، زه ډېر څوک نه لرم. اندېوالان خو مې لکه هاشم څوک لېوني دي، چا ځانونه په لېونو اچولي دي، هههه.

- په ابی مې سلامونه وایه، پوښتنه به دې ضرور کوم. چې کتاب چاپ شو درته راوړم یې.

- وروره جانانه، څې دا خبره پاتې نه سي. هاشم به ځان سره یوه آینه ام گرځوله. څې مخ ته بې ونیوه، اخ به یې کړل، ویلې به یې: «مرگی دې نه وای، هاشمه!»

نور نو باید زه تللی وای، هر یو ته مې غاړه ورکړه، بکس مې اوږې ته کړ، روان شوم. زړه نه تلو، پښې روانې وې، سترگې مې ډکې، ډکې کېدې. موټر راغی، ور وختم. د مخې سېټ کې ناست کس په تعبجب راته ووې: هلته ولاړ، هغه لېونی دی کنه، څه نومېده...

خواب مې ور نه کړ، سر مې ورته وخوځاوه... څه لاره مې چې ووهله، شاته مې ور وکتل، دوی لا همغسې روان وو، موړ راغی... وروستی وار مې ور ولیدل، په سترگو مې زور راوړ، هاشم و، لاس یې راته جگ کړی و...

## پای

## نظم

څوک زما غونډې خراب نه شته ملګریه
حساب دا دی چې حساب نه شته ملګریه

جواري ده د چا زړونه نه ګټمه
په خبرو جنتونه نه ګټمه
ما سره خیال د ثواب نه شته ملګریه
حساب دا دی چې حساب نه شته ملګریه

خپلې وینې په ګیلاس کې ګرځومه
نور به شنه ازغي په لاس کې ګرځومه
څوک لایق د سره ګلاب نه شته ملګریه
حساب دا دی چې حساب نه شته ملګریه

هرې خوا ته چې شم لاړ په اور ختلی
لکه زه چې يم د غم په مور ختلی
کرۍ شپه مې ترېنه خواب نه شته ملګريه
حساب دا دی چې حساب نه شته ملګريه

خير که خلک خندېدلي ما ويلي
چې هر څه خولې ته راغلي ما ويلي
د خدای سوال زما ځواب نه شته ملګريه
حساب دا دی چې حساب نه شته ملګريه

څوک زما غوندې خراب نه شته ملګريه
حساب دا دی چې حساب نه شته ملګريه

***

## لېونی غزل

بې حده شي بې خوده سل فیصد لېوني کېږي
دا خپلو او پردو ویشتلي خود لېوني کېږي

ترخنګ یې شي خاونده چې وګړي ترې په شا دي
دا صفر ګوښې پاتې بې عدد لېوني کېږي
دا ډېر چې لېوني دي، دا د مینې له احساسه
دا یو نیم خو له کرکې له حسد لېوني کېږي
حالاتو چې یې زړه ته وي کولپونه اچولي
د زړه وال خامخا په شد و مد لېوني کېږي
چې درد لري درمان ته درمانګره مینه نه وي
هاشم وي، که همیم او که اسد لېوني کېږي
نغمې چې منجمدې شي، چې لمر یې اوبه نه کړي
موسم چې سړېچن شي نو مقصد لېوني کېږي

د مینې د جمال ربه درمان د کاروان ورکړه
اتي دا امتي د محمد لېوني کېږي

**پیرمحمد کاروان**

**۱۷ عقرب ۱۴۰۳ هجري شمسي/خوست**

Ketabona | کتابونه
WWW.KETABONA.COM

له کتابونه ډاټ کام انلاین کتابتون څخه په وړیا ډول
په ډېره آسانه بڼه صفاء هراړخیز کتابونه ډاونلوډ کړئ!

www.ketabona.com



@Ketabona www.ketabona.com info@ketabona.com

TALK TO US
+93 767 616767
info@Ketabona.com